# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۰۲) ګڼه / پنجشنبه ۲۲ ربیع‌الثانی ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲٦ عقرب ۱٤۰۱ هـ.ش / ۱۷ نوامبر ۲۰۲۲ میلادی


د اسلامي امارت ویاند:

## ځانګړو عملیاتو کې ۶ خوارج وژل شوي، ۴ تنه ژوندي نیول شوي

د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد وایي، چې په هرات ولایت کې یې د داعش وسله والو پر پټنځای عملیات کړي دي.

ښاغلي مجاهد په خپله رسمي ټویټرپاڼه لیکلي، چې د ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې ۶ داعشیان وژل شوي، ۴ تنه ژوندي نیول شوي دي.

د مجاهد په وینا: «دغو داعشي فتنه ګرو څو ورځې وړاندې په هرات کې د یوه بس په چاودنه کې لاس درلود چې ډاکټران یې انتقالول.» نوموړي زیاتوي، ډېرې وسلې او مهمات هم ترې تر لاسه شوي دي.

په عین حال کې د هرات د والي ویاند حمیدالله متوکل یاد عملیات تاییدوي په خبره یې د «پرون شپې عملیات د هرات ولایت د ۱۲مې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې د داعش وسله والو پر یو پټنځي شوي دي».

دفاع وزیر:

## پرهیواد د بشپړ واک له مخې له خپلو پولو نړۍ ته ډاډ ورکوی شو



شریعت: د ملي دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد پرون په افغانستان کې د اسلامي همکاریو سازمان د بشري او کلتوري چارو مرستیال طارق علي البخیت، د دغه سازمان ځانګړي استازي محمدسعید آل عیاش، د یاد سازمان د دفتر عمومي مدیر او سیاسي مرستیال یوسف الضبیعي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

مولوي محمد یعقوب مجاهد په دغې کتنه کې د اسلامي همکاریو له سازمان سره د بنو اړیکو پر پراختیا د ټینګار ترڅنګ وویل، چې د ملي دفاع وزارت د سرحداتو په کلکه ساتنې سره ټولې نړۍ ته پوره ډاډ ورکوي، چې د افغانستان خاوره به هیڅکله د نورو هېوادونو پرضد ونه کارول شي.

نوموړي په ټینګار سره وویل، چې اسلامي امارت د دوحې ترون ته ژمن دی او د افغانستان څخه به نړۍ ته هیڅ ډول ګواښ نه پېښېږي.

په ورته وخت کې د اسلامي همکاریو سازمان په افغانستان کې د امنیت د ټینګښت، د نشه یي توکو د قاچاق او مخنیوي او داعش ډلې سره په مبارزه کې د اسلامي امارت د هڅو ستاینه وکړه.

هېره دې نه وي، چې د اسلامي همکاریو سازمان استازو په تېرو څو ورځو کې په افغانستان کې د دفتر پرانیستلو تر څنګ د اسلامي امارت له یو شمېر لوړ پوړو چارواکو سره هم کتلي دي.

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال:

## د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره د خپلو امکاناتو ترکچې لاس په کار شي



شریعت: د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د چاپېریال ساتنې ملي اداري له رئیس حافظ عزیز الرحمن او د ملي راډیو تلویزیون مرستیال ضیاء الحق حقمل سره په سپیدار ماڼۍ کې ولیدل.

د ریاست الوزراء سیاسي ۷مخ

## یوه MI ۳۵ ډوله چورلکه ترمیم او الوتنې ته چمتو شوه

شریعت: د ملی دفاع وزارت د یوې ۳۵ MI ډوله چورلکې د رغونې او الوتنې د چمتوکولو خبر ورکړی دی.

یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د هوایي ځواک عمومي قوماندانۍ د تخنیکي ټیم لوري د ۳۵ MI ډوله چورلکه ترمیم او الوت ته چمتو شوه.

خبرپاڼه زیاتوي، چې د هوایي ځواکونو د عمومي قوماندانۍ د بېلابېلو چورلکو ترمیم د دوام په لړ کې دا ځل د ۳۵ MI ډوله چورلکه د دغې قوماندانۍ د تخنیکرانو او انجینرانو له لوري ترمیم او الوتنې ته چمتو شوه. ۷مخ

وزارت دولت در امور حوادث:

## نهادهای امدادرسان کمک ها را به ساکنین ارتفاعات بدخشان برسانند



شریعت: سرپرست وزارت دولت در امور حوادث از سازمان بین المللی مهاجرت خواست تا کمک‌های بشردوستانه زمستانی را برای قوم قرغز در ولسوالی‌های واخان و پامیرهای بدخشان برسانند.

دفتر مطبوعاتی وزارت دولت در امور حوادث دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفته است: ص۷

## ایجاد یک صندوق وجهی از سوی سازمان همکاری‌های اسلامی برای افغانستان




شریعت: طارق علی بخیت نمایندۀ خاص سازمان همکاری‌های اسلامی، در دیدار با هیئت رهبری د افغانستان بانک ازایجاد صندوق وجهی برای افغانستان خبر داد.

د افغانستان بانک در خبرنامه‌یی گفته است: در دیداری که عبدالقاهر... ص۷

## افغانستان او ایران په ګډه پوله یو صنعتي پارک جوړوي



شریعت: د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي په کابل کې د ایران له سفیر بهادر امینیان او د دغه هېواد د فولا مبارکه شرکت له مسوولینو سره د خپل کار په دفتر کې وکتل. د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې په دې کتنه کې دواړو لوریو د ګډو سوداګریزو همکاریو، د افغانستان د صادراتو د حجم پر زیاتوالي، د چابهار بندر له لارې د مالونو د ترانزیټ او سوداګرۍ د آسانتیاوو او په افغانستان کې.. ۷مخ

## سرمقاله

## له سرحدي شخړو په کلکه ځان ساتنه په کار ده!

تېره ورځ دسپین بولدک او پکتیا ډنډ پټان پر ډیورنډ کرښه د افغاني او پاکستاني ځواکونو ترمنځ د وسله والو نښتو خواشینونکي رپوټونه خپاره شول. طبیعي ده چې له دې ډول پېښو سره د دووګاونډیو هېوادونو پر اړیکو خامخا ناوړه اغېز پرېوځي. په تېره بیا چې کرښه هم لانجمنه، غاصبانه، دوه نیم زره کیلو متره اوږده او بیا د دواړو ولسونو ترمنځ ګڼې تاریخي، دیني، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزي اړیکې هم شتون ولري.

ترديٍ ورها خوا کله چې بیا یو لوری زموږ په شان څلور څلوېښت کلنو جګړو هم داسې ځپلی وی چې ټوله نړۍ یې د خپټې مړولو لپاره بسپنې ورته راغونډ وي! البته موږ داهم منو چې پاکستاني عسکرو به لس ګونه ځله تېری او ناوړه پارووونکې چارې ترسره کړې وي، خو داچې زموږ مجبوري اوکمزوري ده نو پرته له زغمه بله هیڅ چاره یې نه را معلومېږي. حقیقت دادی چې ان د افغان حکومت د بنسټ ایښودونکي احمد شاه بابا له زمانې رانیولې بیا تراوسه دوه سوه اویا کلونو کې موږ هیڅکله هم د هېواد په ځان بسیاینه کې نه یو بریالي شوي. بلکې زیاتره وخت مو یرغلګرو سره په مقابله او مدافعه کې لګېدلی او داهم ځکه چې موږ خپل کور نه دی جوړکړی، خپل خلک مونه دي بسیا کړي او د یو داسې نظام پرجوړولو مو کارنه دی کړی چې بشپړ ولسي ملاتړ ولري. او له ولسي ملاتړه هم په دې خاطر محروم پاتې شوي یو چې سیاستوالو به یاد لیبرالیزم پردی نا آشنا رسم و رواج پرخلکو تحمیلولو او یا به یې له دیني پلوه خلکو سره توند او سخت ګیرچلند کاوو. تردې چې همدغه ظالمانه، تنګ نظره او زور واکي چلند به د ځینو اشخاصو د نارضایي لامل او د پردیو یرغلګرو د راتلو سبب شو. موږ همدغه تکي پاتې راوستلي او په ذلت او خوارۍ اخته کړي یو. مطلب کله چې ظاهرخان د انګریزي ځواکونو تروتلو وروسته پښتني سیمو کې د پاکستانۍ جنډې درېدل او پنجابي عسکرو ډېره کېدل په رڼو سترګو لیدل اوزغمل، نو ښکاره ده چې ځان به یې کمزورۍ او مجبور ګاڼه، نن موږ ترهغه لازیات مجبور او در په دره یو. تردې ... ۲مخ

## صفر شدن تعرفۀ گمرکی برای واردکنندگان مواد خام

شریعت: مسؤولان در وزارت صنعت و تجارت می‌گویند که تعرفۀ گمرکی برای وارد کنندگان مواد خام صفر شده است.

نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت در ... ۷مخ



اداره امور:

## به مشکلات فدراسیون‌های ورزشی رسیدگی می‌شود



شریعت: رییس فرهنگی واجتماعی ریاست عمومی اداره امور می گوید که نام مدال آوران ورزشی، ثبت صفحه پر افتخار تاریخ کشور می‌شود.

دفتر مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی خبر داد که به منظور رسیدگی به مشکلات فدراسیون‌های ... ص۷

## بیا امارت او بیا شریعت!!

۲مخ

## انټرنیټ د دعوت بهترینه وسیله ده!

۳ مخ

## د شرعي حدودو؛ پلي کولو ضرورت!

۴ مخ

د کوچیانو یو شمېر قومي مشران:

## له امتیاز پرته د افغان حکومت هر خدمت ته چمتو یو

شریعت: د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس ډاکټر ملا عبدلواسع په افغانستان کې د مېشتو کوچیانو یو شمېر قومي مشرانو سره پرون په ارګ کې وکتل.

په دې کتنه کې د کوچیانو قومي مشرانو د خپلو ستونزو د شریکولو ... ۷مخ

## اعلام همکاری ایران با شاروالی کابل در بخش پروژه‌های عمرانی

شریعت: ایران در بخش پروژه های عمرانی ،با شاروالی کابل همکاری می کند

مولوی عبدالرشید شاروال کابل، در دیدار با حسن شیرازی مستشار سفارت جمهوری اسلامی ایران در کابل و یک تاجر ملی آن کشور، در رابطه به تطبیق برخی از پروژه‌های عمرانی و سرمایه گذاری در این عرصه، صحبت کرد.

دراین دیدار شاروال کابل، در رابطه به برنامه‌های بزرگ عمرانی در شهرکابل، که شامل پروژه‌های متعدد عام المنفعه است، معلومات داد. ص۷

## هلمند کې د ورانو سړکونو د بیا رغولو چارې پیل شوې

د هلمند د لښکرګاه په ټولو ناحیو کې د ویجاړو شویو سړکونو د بیا رغولو چارې پیل شوې.

د لښکرګاه ښاروالۍ اجرائیه عمومي مدیر مولوي محب دباختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، ۷مخ



له افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون:

## د راستنو شویو شخصیتونو غوښتنې او وړاندیزونه پام کې نیول کیږي

شریعت: له افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون د ریاست الوزرا د سیاسي مرستیال په مشرۍ ناسته وکړه.

په دغه ناسته کې، چې پرون مازدیګر په سپیدار ماڼۍ کې تر سره شوه د یاد کمېسیون غړو د نورو موضوعاتو تر څنګ د یاد کمېسیون له لارې هېواد ته د راستنو شویو سیاسي شخصیتونو پر غوښتنو او وړاندیزونو هم بحث او خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده، چې له افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون له جوړېدو وروسته توانېدلی دی، چې تر دې دمه د دوی په هلو ځلو د تېرې اداري لسګونه چارواکي او غړي بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي.

## پنجشیر کې ۱۵۰ کورنیو ته برېښنا برابره شوه



شریعت: د پنجشېر د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسوولین وایي، چې د یاد ولایت په مرکز بازارک کې د برېښنا رسونې د یوې شبکې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د پنجشېر د اطلاعاتو او فرهنګ ۷مخ

# ولې له نقده ډارېږو؟

**لیکنه: شیخ سلمان العوده / ژباړه: نبراس الحق عزیز**

* نقد بل څه نه دی، نصیحت دی. امر بالمعروف او نهي عن المنکر هم بل څه نه دی، نقد دی.

* انسان کامل نه دی، تېروتنې ترې کیږي، همیشه اصلاح او لارښوونې ته اړتیا لري، ځکه خو ژباړه: په ټولنه کې د داسې خلکو شتون اړین دی چې غلطیو ته دې متوجه او د خیر سپارښتنه درته وکړي.

* ډېر خلک له نقد ویریږي، فکر کوي چې دا د حاسد او کینه گر انسان کار دی. دا مفهوم باید بدل شي. خلک باید وپوهیږي چې نقد له محبت څخه راټوکیږي، دوست هغه دی چې درسره رښتیني وي، نه هغه چې ستا هره خبره تصدیق کړي.

* تیروتنه منل د انسان کمال، عقل، ستروالی، نارینتوب او شجاعت ښیي.د انبیاوو او صحابه وو په سیرت کې د تیروتنو د منلو ګڼ مثالونه شته.

* نقد منل او په خپلو تیروتنو اعتراف د دښمن پر مخ دروازې ترېي. که ته خپله غلطي ومنې مخالفینو ته به هیڅ چانس په لاس ورنه شي چې ستا پر ضد ترې استفاده وکړي.

* خو ځیني خلک په تیروتنو سربېره هغه توجیه کوي هم، تفلسف پکې کوي. که اړتیا پیښه شي نو د شرعي نصوصو څټونه ورتاووي او په دې پسې ګرځي چې یوه شاذه فتوی راپیدا کړي ترڅو خپله غلطي پرې توجیه کړي.

* د اسلامي تاریخ په اوږدو کې مسلمانانو همیشه د اصلاح، توجیه او رغوونکې نیوکې دود ساتلی او دا یې د اسلامي امت د بقاء اساس ګڼلی دی. خو متاسفانه نن اسلامي امت -پرته له استثناء- له سر نه تر پښو پورې ټولو د نصیحت او سالمې نیوکې زغم له لاسه ورکړی دی. په استاذ او معلم بده لګیږي چې شاګرد یې غلطي ورسمه کړي. عالم او ملا ښه نه ګڼي چې یو مقتدي ورته د یوې غلطۍ د سمونې سپارښتنه وکړي. همدا تعامل د حکومتونو او ولسونو ترمنځ هم دی.

* په اسلامي امت کې نن ورځ نقد ته د سپکاوي او توهین په نظر کتل کیږي. وجه یې دا ده چې نه دوی په نصیحت روږدي دي او نه یې غوږونه د نقد له اوریدو سره اشنا دي.

* کله کله اړتیا وي چې نقد او نصیحت په مخفي ډول وي. یو انسان به پټه ګناه کوي او ته به یې د ټولو خلکو په وړاندې رسوا کوې، دا پکار نه ده. خو د ښکاره غلطیو او پرلپسې تکراریدونکو تیروتنو په وړاندې ښکاره نصیحت ګټور دی.

* نقد لکه طبي معاینات؛ مخکې له دې چې مرض په ناسور بدل شي، انسان علاج ته متوجه کوي.

* که نصیحت او نقد نه وي ځای یې مدح او ستاینه ډکوي. په ستاینه کې افراط انسان مغروره کوي او لا یې په غلطیو ټینګوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدح کې له افراط او مبالغې منعه کړې ده.

* مذموم نقدونه هم شته. هغه نقد ښه نه دی چې د انسان شخصي ژوند هدف ګرځوي. یا په واقعیتونو ولاړ نه وي. یا یوازې نیمګړتیاوو پسې ګرځي او په نیکیو سترګې پټوي.

* په هر صورت، مسلمان باید د ټولنې په اصلاح کې مثبت رول ادا کړي، که هر منکرویني باید مخه یې ونیسي (په نبوي اصطلاح: من رای منکم منکرا....) او (یا په معاصره اصطلاح) نقد پرې وکړي، خو په دې شرط چې نیت یې اصلاح وي او اسلوب یې مناسب وي.

* همدا شان مقابل لوری هم باید نیوکه په ورین تندي وزغمي او خپل توهین یې ونه ګڼي. همدا د صحابه کرامو رضي الله عنهم صفت او عادت وو.

# له سرحدي شخړو په کلکه ځان ...

چې دادی په نړۍ کې مو نه د ملګرتیا او راشه درشې څوک شته او نه درسمي راکړې ورکړې، بلکې لا زیاتره بدرد هم را پسې وایي او بندیزونه هم را لګوي. په دې اساس موږ ته لازمه ده چې خپل موجوده وضعیت په ښه ډول درک او په هیڅ صورت داسې کوم پارونکي یا انتقام اخیستونکي عمل ته اجازه ورنه کړو چې پایله یې د لارو بندېدل، سوداګري خرابېدل او د بې وزله عوامو ستونزې زیاتېدل وي. زموږ د مشرانو باید همېشه دې ټکي ته پام وي چې د نن زمانې ډېر زورور او پیاوړي حکومتونه هم ان د خپلو ناروا یرغلونو او تېریو لپاره څه ناڅه ظاهري پلمې او روایتونه جوړوي او نور خلک هم پرې قانع کوي. مقصد له مخامخ او بربنډ تجاوز نه څنګ کوي او د خپلو پټو اجیرانو یا دوستانو پرمټ خپل رقیب وهي او غچ ترې اخلي. لنډه دا کومې ستونزې چې د کرښې په اوږدو کې منځ ته راغلې دي، خامخاله سفارتی لارو هم بحث پرې کېدی شو او غالباً مثبتې نتیجې به یې هم ورکړې وي. خوله بده مرغه زیاتره دا ډول پرېکړې او کړنې یا تصادفي او یا د خپلسرۍ له کبله منځ ته راځي چې زیان یې هم یو په سله د ملت د اوږو بار شي. نو راځئ د اوس مهال لپاره په دغسې مواردو کې له پوره زغمه کار واخلو او خپله ټولو توجه او زورو ځواک د هېواد په ودانولو، بسیاکولو او له پردي احتیاجه خلاصولو کې مصرف کړو. همدا په حقیقت کې د ګردو ستونزو یوازنی او منطقی ځواب دی.

# بیا امارت او بیا شریعت!!

**سعد کتوازي**

له هغې غاړې دې غاړې ته د ورځو پر تداول او ادلون بدلون الهي عادت روان دی. داسې ورځې هم وې چې اسلامي امارت او رسنیز ارګان (شریعت) یې خپل ټول پام پر دودیزو لارو چارو او وسیلو چې افغانان تر بل هرڅه ښه ورسره بلد و؛ متمرکز کړی و، ډېر لږې او پردیو حربو پسې ډېر نه تلل او د زمان-مکان-رامنځته کړیو شرائطو له مخې دا تر ټولو ښې ورځې هم وې، خو د ترکیز د یاد محدودیت له امله یو ناڅاپه دغو ورځو ادلون وکړ او د نړیوال صلیبي اشغال پر وړاندې د کلکې او خونړۍ جګړې او تبلیغاتي مبارزې په شکل بدلون پکې راغی، د ترکیز له کرار پراخوالي او پکې د اړینو(تبلیغاتي+ډیپلوماتیك)ډګرونو راتلو سره دغه بدلون هم په تېر پسې پر ادلون واوښت او پر ځای یې نوی بدلون(امارت تیت وپرك نظام او شریعت مجلې او ویبپاڼې شو)راغی چې دوهمه پلا امارت او شریعت غبرګ یې له ځان سره لرل.
کشر وم د درملنې لپاره به کابل ته تلم، چهار راهي صدارت کې د سیمې مجاهدینو نمایندګي ته شریعت ورځپاڼه او یوه بله ځومیاشتینۍ رسمي جریده به چې راغلې؛ ځای نه پر کېد او شریعت څو ځله مجاهدینو ترمنځ سره وشکوله، له ښاغلي مفتي ابوسعید راشد سره جامعې فاروقیې ته لاړم؛ هلته مې هم لوستله، خو دا هغه وخت وو چې دغه پلا شریعت او اسلامي امارت دواړه د سقوط په درشل وو، زه هم کور ته ترې راغلم او شریعت هم د امارت د نطاقانو او ویندویانو په څېر تیت وپرك شوه.
هغه پلا شریعت د وېش له پراخې لړۍ سربېره چې آن له هېواد سره ګډې پولې خیبر پختونخوا ته هم غځېدلې وه او د دې پلا په څېر د چاپي خپرونو له مرکزیت درلودو سره سره بیا هم په کور دننه زموږ لرې پرته سیمه کې شریعت نه ښکارېده، لاهم به یې د چاپ شمېر، د وېش کچې او د پرسونل کمښت وو چې په لازیاته خواشینۍ؛ دا پلا یې د هرې ګڼې چاپ شمېر ۱۰۰۰ټوکونو او خپرونې یې پر کابل دننه لا هم څو ګوتشمېره ادارو او پېرودونکو پورې را لوېدلې. شریعت ورځپاڼې لومړۍ د اونیزې په بڼه فعالیت پیل کړی چې بیا یې په اونۍ کې درې ځله خپرېدو سره ورځپاڼه شوه او له لومړي سره چې د طالبانو اسلامي خوځښت بنسټ پر کوم احساس ښوودل شوی؛ پر همغه احساس د شریعت ورځپاڼې بنسټ هم و چې د لومړۍ(اونیزې)ګڼې سرلیکنه یې څرګندوي: «طالبان(اسلامي تحریك)چې خپل ټول ژوند یې د الله تعالی د دین د زده کړې لپاره وقف کړی او بیا یې د دیني عالمانو په حیث د اسلامي ټولنې، اسلامي عقیدې، اسلامي عبادت، اسلامي اخلاقو، اسلامي سیاست، اسلامي اقتصاد او اسلامي کلتور د لارښوونې او په عمل کې یې د تطبیق دنده پر غاړه اخستې ده، له ځان سره د اسلامي شریعت زېرى او پیغام لري...دغه ټول سببونه او علتونه باعث وګرځېدل چې د شریعت اونیزه د مطبوعاتو په افق باندې څرګندېږي او د طالبانو د اسلامي تحریك د نشراتي ارګان په حیث د اسلامي شریعت د ژوند ښوونکي پیغام ټول اړخونه د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته په خپلو خپرونو کې وړاندې کوي. تر څو هغه ارمانونه یې چې د څوارلس کاله جهاد په اوږدو کې یې د یو نیم میلیون شهیدانو په بیه له ځان سره درلودل، د عمل او تطبیق په ساحه کې مشاهده کړي. د شریعت اونیزه به د افغانستان او جهان په هکله د پېښو او قضایاوو اړوند خبرونو او تبصرو سربېره د اسلامي شریعت په عقیدوي، عبادتي، اخلاقي، اقتصادي، سیاسي او اداري برخو باندې علمي او مستندې لیکنې او خپرونې کوي، څو د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت لپاره د لارې مشال او دنیاوالو ته د هدایت او لارښوونې سرچینه وګرځي» .
هو ! شریعت یواځې په همدې موخه چې ولس ته د لارې مشال او نړیوالو ته د دعوت او ارشاد (بلنې او لار ښوونې) سرچینه وي؛ فعالیت یې پیل کړ چې پر یادو برخو لیکنې او خپرونې به کوي، پرته له دې چې د تبلیغاتي، فکري او فرهنګي جګړې سنګر وي یا یې هم وپېژني او په دغه سر لیکنه کې د پام وړ ټکي همدا دي چې هم د اسلامي امارت د پیل د عیني شاهد په توګه د هر ډول ترهګرۍ، تروریزم او نورو تورونو هغه پاك او بېزاره راپېژني او هم ښیي چې: لومړۍ پلا شریعت یواځې پر اطلاعاتي او دعوتي اړخونو خپرونې درلودې او بس، نور که څه هم نړۍ یې په ناپامۍ کې پر وړاندې نا اعلان شوې تبلیغاتي، فکري او فرهنګي جګړې پر مخ وړې، خو اسلامي امارت او دې چاپي خپرنیز ارګان یې نه یادې جګړې په خپلو موخو کې حساب کړې وې، نه یې ښایي ورته پام و او نه یې ورته کومه پاملرنه درلودلې، بلکې تر څو واسطو ور هاخوا پټ نړیوال مخالف او دغې تبلیغاتي-فکري-فرهنګي جګړې پر کوم څه چې امارت او شریعت پوهېدلې؛ په خورا سر سري سترګه کتل شوي، بشپړ ترکیز پر کار-وسله-د شریعت پر یادو دوو موخو شوی او سرچپه یې له موافقو او پټ او ښکاره مخالفو هم همدا بې ځایه تمه شوې چې ځمکني واقعتونه بې چون او چرا ورسره ومني او د نه منلو په صورت کې یې د هیڅ(ځمکنیو واقعیتونو نه منلو او تبلیغاتو)پروا نه وه ساتل شوې، نو را وروستو ته پر کتو د شریعت همدا نه پاملرنه چې ښایي دا به هم د مخالفو کړیو د اغفال د هڅو پر اثر وو؛ د بشپړ اسلامي امارت په سقوط کې یو بارز لامل ګڼلای شو.
تېره پلا چې شریعت یواځې اطلاعاتي او دعوتي خپرونې کولې، د تبلیغاتي، فکري او فرهنګي سنګر سرې تودې یې نه لرلې، نه هم د اطلاعاتو، دعوت او تبلیغاتي-فکري-فرهنګي جګړې اړتیا او ډګرونه د اوس په پرتله پراخ او ګرم وو او نه یې شریعت ورځپاڼه تر دې کچې مسئوله وه؛ بیا هم اونۍ کې درې ځله(هر ځل د۲۰۰۰او۳۰۰۰ټوکه ترمنځ)چاپېده، نو د اړتیا او ډګرونو د اوسنۍ پراختیا، ګرمښت او پکې د شریعت مسئولیت او رول چې چا هم درك کړي؛ پر اسانۍ د چاپ شمېر او په یاده اړتیا او ډګرونو پسې یې د رسولو پر تړاو پرېکړه هم کولی شي، له دې ورهاخوا د مطالعې دودول او د زده کړیالانو له درسي مضامینو سره د خارجي مطالعې اهمیت هم دوه جلا او سترې اړتیا وې دي چې د پوره کولو کارنده لاره یې ورځپاڼې او میاشتنۍ مجلې دي، د شریعت نیکمرغي به وي که ورته سبقت او پاملرنه وکړي. هر وخت او ځای له دغو دوو سترو اړتیا وو د اغېز پړه پر برېښنایي دامونو ور اچول هم یوه بې انصافي او ځان تېر ایستل ښکاري، ولې ترڅنګ یې یو خونړۍ جهادي پیر روان او د مرګونو، ویرونو او ناخوالو یو افسانوي ډول واقعیتونه مخ ته نه راتلل او تېرېدل؟ پکې د ډېرو مصروفیت، ورځخه فزیکي-مادي-معنوي اغېزمنتیا او له پوهنیز او مطالعاتي بهیره ناهیلۍ د مطالعې حس وانخیست؟ لامل یې ولې نشو بللی، ګڼلی او منلی؟ چې پر اثر یې برېښنایي وسیلو ته له لاسرسۍ او پرې له پوهېدو پرته او پر کارولو یې له بندیز سربېره هم ډېرو د مطالعې حس او ذوق له لاسه ور کړی، په ځانګړې دیني طالبان او نوي فاضلان هیڅ له مطالعې سره بلد نه وي، یو جلا فن ورته ښکاري او مروج ځینې تخصصات-مضامین-لنډمهالې کورسونه او تګلارې یې د همدې لپاره په کار اچول کېږي.
هو ! لویې برخې یې ناموثقو او لنډ مهاله برېښنایي وسیلو او سرچینو ته هم مخه کړې چې لازیات د مطالعې ذوق له منځه وړي او له اوسني رکود سره یې مخ کوي، خو په هر رنګ؛ اوس هغه پیر او د ناخوالو د افسانوي واقعیتونو وخت تللی، د بیا مطالعې حس او ذوق را پارولو وخت دی او بیا په اتومات شکل او د یو خودکار احساس د پنځېدلو په بڼه اوس ډېرې لوستي او نالوستي ټول د دغه حقیقت په درك کولو هڅه کوي له لیکوالۍ، حکومتولۍ او اداري چارو سره ځان بلد کړي چې شریعت هم په دې دواړو(د تېر او اوسني وخت توپیر-خارجي مطالعې اهمیت او د دغه حقیقت درك)کې ډېر ستر مسئولیت لري، اړین رول لوبولی شي او که په ښه توګه پوره کولو ته یې متې را ونغاړي او دوی ته لاس ور کړي؛ ستره نېکمرغي به یې هم وي. نو اړینه ده شریعت ورځپاڼه د چاپ شمېر له بې ساري لوړولو وروسته په ټولو سترو ښارونو کې استازي او د پراخ وېش برنامې ولري چې د هیواد ګوټ ګوټ کې ټولو دارالافتاءګانو، دیني مدرسو، پوهنتونونو، لویو لېسو، پوځي او ملي ادارو، قول اردوګانو، پوځي رونتونونو، کتابتونونو-شرکتونو او لویو بازارونو ته د عامه ترانسپورت له لارې پر وخت رسېږي او له لارې به یې د کمې بیې پلور څخه هم د چاپ لګښتونه تر ډېره پوره کړای شي. خواخوږو لیکوالو او د نظر څښتنانو ته هم بویه شریعت خپل سنګر وګڼي، د نویو پېښو او وضعیتونو پر تړاو تازه لیکنو-تحلیلونو-ارزونو-تبصرو یې لا غني کړي او داسې موادو ته ډېره پاملرنه ولري چې د خیرالقرون خلافتونو او ترې راوروسته اسلامي خلافتونو او نظامونو چلښت ښیي او اوس یې تطبیق ته لاره هواروي. دولتي، پوځي، تربیوي، پوهنیزو او ملي ادارو مسئولین هم که دا سپارښتنه په پام کې ولري او خپل ټول ترلاس لاندې افراد د شریعت او نورو ورځپاڼو او چاپي رسنیو لوستنې ته وهڅوي او په تربیوي برخه کې یې د خارجي مطالعې د مضمون په توګه پرې ولولي، ترڅو د بیا امارت او بیا شریعت هم هغه ټولې سره تړلې ګډې موخې ترلاسه شي چې په تمه یې د دواړو یو بنسټ وو او یوه یې داعیه، د شرائطو په رنګونو کې امارت۲۹او شریعت په بېلابیلو بڼو۲۶کاله یون وهلی او لاهم خپلو مسئولیتونو ته ژمن او د یادو موخو ترلاسه کولو کې هڅاند دي.



# انټرنیټ د دعوت بهترینه وسیله ده!




**فرید احمد (مبارز)**

په اوسني وخت کې د دعوت لویه او اسانه وسیله انټرنیټ دی، لکه څنګه چې دعوت مختلف مجالات او ډګرونه لري، همدا شان الله (جل جلاله) انسان ته مختلف وسائل په لاس ورکړي دي، تر څو د هغو پواسطه د الله (جل جلاله) دین ته خلک را وبلي او خپله خبره نورو ته ورسوي، دا وسائل په هره زمانه کې مخ پر وړاندې ځي او د پخوانیو وسیلو سره په خوا کې د دعوت لمنه نوره هم پراخه وي، د دعوت د وسائلو څخه یو هم په نني عصر کې د انټرنیټ یا نړیواله شبکه ده، او پر دعوت کوونکي لازمه ده، چې د انټرنیټ سره ځان بلد کړي، تر څو په دې وسیله خپل دعوت نورو ته ورسوي.

په همدې اساس ویلای شو: د دعوت د پاره وسائل ضروري دي او پرته د وسائلو دعوت نه شي کیدلای، نن سبا انټرنیټ تر ټولو کم مصرفه او آسانه وسیله ده، نو پر دعوت کوونکي لازمه ده، چې ددې وسیلې څخه هر اړخیزه ګټه واخلي، ځکه چې دعوت واجب دی، نو د وسیلې زده کړه هم ضروري ده.

دعوت او د انټرنیټ اهمیت: هره دعوتي او اعلامي وسیله خپلې ځانګړتیاوې لري، چې پر خپل ځای د اهمیت وړ دي، لکه د نورو دعوتي وسائلو په څیر انټرنیټ هم خپلې ځانګړتیاوې لري، چې د ډیرو عصري وسائلو لکه: راډیو، چاپي نشرات او داسې نورو... څخه په دعوتي کار کې خپل اهمیت زیاتوي، چې ځینې ځانګړتیاوې یې په لاندې ډول دي:

د دعوت نړیوال کول: د انټرنیټ په وسیله نن ورځ د نړۍ هر ګوټ ته خپله خبره رسول آسان کار شوی او انسان کولای شي، چې د نړۍ ختیځ او لویدیځ سره اړیکه ټینګه کړي.

لږ مصرف او ډیر کار: د نورو دعوتي عصري وسائلو جوړول او تر لاسه کول او د هغې لاري دعوتي کار کول ډیرو مصارفو ته اړتیا لري، مګر انټرنیټ د یو کمپیوټر او د انټرنیټ د لیکلو د مصارفو څخه بل کم اضافي مصرف نه لري او یو عادي دعوتګر یې هم ددې لاري څخه کولای شي.

**د بیان آزادي:** د انټرنیټ پواسطه انسان کولای شي، خپله هره خبره په پوره ډاډ او آزادۍ سره بې له دې چې د چا د سانسور او نیوکې لاندې وي نورو ته ورسوي، چې دا کار په نورو دعوتي وسائلو کې تر ډیره حده ګران او حتی ناشونی کار دی.

څو اړخیزه اړیکه: اکثره دعوتي وسائل یو اړخیزه وي، په دې معنا چې د یوې خوا خبره او پیغام استول کیږي او د بل لوري کم عکس العمل نه شي تر سره کیدلای، لکه: په راډیو ، مجله او اخبار کې یوازې د همدې وسیلو د چلوونکو خبره او نظریات منعکس کیږي او دا مجال ډیر کم او محدود دي، چې اوریدونکي او لوستونکي خپله خبره په همغه پیمانه چې زړه یې غواړي نورو ته واوروي، مګر په انټرنیټ کې دا کار د دعوتګر او مقابل لوري تر منځ مساویانه وي، هر څوک کولای شي چې خپل نظریات په همغه اندازه نورو ته ورسوي، چې څومره دی خپله توان لري.

د معلوماتو ذخیره او حفظ: د کمپیوټر او انټرنیټ پواسطه انسان کولای شي په لږ مصرف، لږ وخت کې او په ډیره ساده توګه بې شمیره معلومات حفظ او ذخیره کړي او په ډیره آسانۍ سره چې کله وغواړي هغه معلومات بیرته تر لاسه کړي، هغه که لیکلي مواد وي، که آواز وي او که عکس وي.

**کوچنی وسیله او غټ کتابتون:** د کتاب او نورو موادو راټولول او ذخیره کول یو ګران کار دی، د یوې خوا ډیرو مصارفو ته اړتیا لري او د بل لوري لوی ځای ته، تر څو دا مواد په هغه کې ځای پر ځای شي او بل دا چې ددې موادو ځای پر ځای کول په اوسني عصر کې ځانګړي علمي او عملي اصول غواړي، تر څو هغه په ترتیب سره ځای پر ځای شي، چې د لټون پر وخت په آسانه بیرته تر لاسه شي، او نن سبا ددې کار لپاره ډیر مصارف کیږي، مګر انټرنیټ پخپله په زرګونو کتابتونونه په خپلو لیکو کې را نغښتي، چې د هغو کتابتونونو جوړول د اکثره هیوادونو د حکومتونو د توان څخه هم وتلي وي، مګر انټرنیټ د یو کمپیوټر او یوې لیکي پواسطه دا ټول کتابتونونه د انسان په خپله خونه او دفتر کې هغه ته بې له کم اضافي مصرف او تکلیف څخه وړاندې کوي.

د دلائلو د لټون آسانتیا او ډیروالی: کله چې داعي خپل دعوت نورو ته وړاندې کوي، نو دې ته اړتیا لري چې د مناقشې پر مهال علمي دلائل وړاندې کړي، چې په نورو وسائلو کې د هغو لټون ورځو او میاشتو ته اړتیا لري، مګر دانټرنیټ په یو لټون (سرچ) کولای شي بې شمیره دلائل تر لاسه کړي.

پراخه وخت: په نورو دعوتي وسائلو کې د ځانګړي وخت څخه پرته خپله خبره او دعوت نورو ته نه رسول کیږي. د مثال په ډول: اخبار سهار وختي بازار ته راوځي، نو بیا د لیکوال د اختیار څخه بهر وي، همدا راز راډیو خپل ځانګړي وختونه لري او باید په پوره آماده ګي او دقت سره پر خپل وخت پروګرام وړاندې شي، مګر په انټرنیټ کې هر ګړۍ چې وغواړې، نو خپله خبره نشرولای شې، که هغه د خوب په خونه کې وي، که د فتر وي او که د خوړلو په خونه او یا بل ځای کې وي.

# د امام ابو حنیفه (رحمه الله) حکمت او ځیرکتیا!

**ژباړه: اکرام واحدي**

یو کس په نیمه شپه کې د امام ابوحنیفة رح د کور دروازه ټک ټک کړه. د کورنۍ یو تن را ووته او دروازه کې ولاړ شخص سره یې له دوه درې خبرو وروسته هغه ته وویل چې امام ویده دی.

هغه کس اصرار وکړ ویل یې زما ډېره ضروري مسئله ده، هر څنګه چې کیږي امام باید را ویښ شي. لنډه چې امام ابوحنیفة رح ورته را ووته او هغه نفر نه یې وپوښتل چې مسئله څه ده؟

پوښتونکی وویل چې ما د خپلې مېرمنې سره لانجه کړې، خبرې سره نه کوو. خو ما یو کار کړی او هغه دا چې ورته مې وویل چې که د سهار اذآن پورې دې راسره خبرې ونکړې نو ته پر ما طلاقه یې. اوس ماته حل را ښایه زه نه غواړم چې دا طلاق واقع شي.

امام ابوحنیفة ورته وویل د مؤذن کور ته ځان رسوه او هغه را ویښ کړه چې د سهار اذآن په همدې نیمه شپه کې وکړي. سړی حیران شو ویل یې دا کار به نو څنګه دا مسئله حل کړي؟

امام ورته وویل چې ته دا کار وکړه یو ځل بیا به ګورو. سړی لاړ مؤذن یې قانع کړ او د خپل کور مخې ته یې راوړ او ورته یې وویل چې اذآن وکړه او خپله کور ته ننوت. مؤذن چې اذان شروع کړ نو ښځې پرې ور غږ کړ چې دا دی اذآن خو وشو له ما نور څه غواړې طلاق واقع شو. سړی خوشحاله شو، ښځې ته یې وویل چې سهار نه دی نیمه شپه ده، اذآن مو در ته یوه حیله جوړه کړې وه او دا دی خبرې مو له سهار مخکې وکړې بس طلاق ختم...

درس: فقهي مسائل په هر زمان کې حللارې لري او باید د دین دایره په خلکو را سخته او تنګه نشي.

فقهي حیلة: په فقهي مسائلو کې داسې یوه لاره پیدا کول چې یو انسان پرې له مشکل او ستونزې بچ شي خو ولې شرعي احکام او نصوص به پکې نه بدلیږي او دا جائزه حیلة ده.

یو عالم د فقهاؤ په اړه وایي: «عقول الفقهاء عقول لا نظیر لها»

# رفاه وآسایش در سایه امنیت

**اسفندیار**



سال روان از لحاظ تأمین امنیت یک سال آرام بود و حد اقل در دو دهه گذشته می‌توان آن را استثنا شمرد. شهروندان در این سال کم‌ترین دغدغه نا امنی را داشتند و همانگونه که پیش بینی می شد هیچ‌گونه تهدید بلند را شاهد نبودند.

پرواضح است که ناامنی پیامد های ناگوار اجتماعی واقتصادی را به بار می‌آورد. به گونه‌ای که موضوعاتی چون فقر و بیکاری، کم رنگ شدن سرمایه گذاری وکم شدن تشبثات اقتصادی، مهاجرت به بیرون وفرار از کشور و ارتقای بهای کالاها وخدمات و...، به نا امنی پیوند دارد. نا امنی باعث می‌شود تا بیشترین پروژه های اقتصادی وبازسازی در ولایات مختلف متوقف شوند واین امر باعث افزایش بیکاری و رکود سرمایه گذاری در کشور می‌گردد، بر عکس تأمین امنیت با تمام این عناصر پاسخگو است و در سایه‌ای آن می‌توان یک دور نمایی روشن برای کشور تعریف کرد و چرخه اقتصاد را به چرخ آورد. به عبارت دیگر امنیت کلید تمام نا به‌سامانی‌های است که مردم افغانستان در چهل سال گذشته از آن رنج برده و این پدیده نا امنی بود که مشکلات فراوانی را برای شهروندان تحمیل کرده بود.

آگاهان به این مسایل معتقدند که حکومت باید همواره تأمین امنیت را در صدر اولویت های خود قرار دهد وتمام سامانه ها وسازوکار های مورد نیاز تأمین امنیت را باید تدارک کند. ارگان هایی که دست اندرکار تأمین امنیت اند باید نیاز سنجی شوند و موضوع اکمال وتجهیز وآموزش منسوبان این ارگانها برابر با نیازمندی های موجود دفاعی ورزمی به بررسی گرفته شود. برای تأمین امنیت به صورت دراز مدت یک دید استراتیژیک به کار است، دیدی که این موضوع را همه جانبه مورد کنکاش قرار دهد. در مواردی حتا ممکن است در راهکارها بازنگری وتجدید نظر لازم باشد. ضرورت تأمین امنیت به گونه دوامدار حکم می کند که این کار باید صورت گیرد. پالیسی‌ها بروز و کار آمد شوند، توان رزمی و دفاعی نیروهای امنیتی ارتقا داده شود، نیازمندی های تسلیحاتی و از جمله سامانه دفاع و پشتیبانی هوایی نیروها به طرز موثری تأمین گردد. با این همه آنچه برای شهروندان نیز بیشتر از هرچیز دیگر مهم پنداشته می‌شود تأمین امنیت است.

خداداد باشنده کابل می‌گوید که امنیت نعمت بزرگی است و در موجودیت آن مردم می‌توانند به آسایش برسند. وی افزود:« امنیت به صورت عموم خوب است و برعکس بیست سال گذشته، حالا در تمام ولایت می‌توانیم با خاطر آسوده سفر کنیم و از تمام نقاط وطن خویش بازدید نمایم که در نفس خود این نعمت بزرگی است. درسال‌های گذشته رفتن از یک ولایت به ولایت دیگر حتی از یک قریه به قریه دیگر اگر نا ممکن نبود ولی خیلی دشوار و بازی با زندگی بود. من از یک سال به اینسو بیشتر از ده ولایت افغانستان را سفر کردم گاهی تنها و بعضی اوقات با فامیل، اما اندکترین نشان نا امنی را ندیدیم و اکنون با خیال راحت میتوانیم هرجای از وطن عزیز خویش برویم.»

خداداد می‌گوید که در کنار تأمین امنیت به صورت عموم، از وزارت امور داخله حکومت امارت اسلامی میخواهیم که با سارقین مسلح نیز برخورد جدی نماید. امروزه در کابل و برخی از شهرهای بزرگ دیگر دزدان مسلح در پس کوچه‌های شهرمردم را با اسلحه تهدید می‌کنند، مبایل و پول شان را به سرقت می‌برند.

این در حالیست که مسوولان امنیتی در کابل از باشندگان این شهر خواسته‌اند که برای بهبود وضعیت امنیتی در منازل شان کمره‌های امنیتی نصب کنند.

فرماندهی امنیه کابل گفته است که روند نصب کمره‌های امنیتی در شهر کابل به هدف بهبود در اوضاع امنیتی جریان دارد. خالد ځدران، سخنگوی فرماندهی امنیه کابل، گفته است که بیش از ۲هزار کمره امنیتی از دو هفته بدینسو تنها در شهر کابل نصب شده‌اند و این روند در بخش‌های دیگر کابل نیز جریان دارد. آقای ځدران گفته است: «این کار تنها سفارشی می‌باشد و جبری نیست که هر شهروند باید کمره نصب کند اما مسوولان شهرک‌های بزرگ مکلف هستند تا در کنار دروازه‌های خود کمره نصب کنند.» فرماندهی امنیته کابل افزده است که در شهرک‌ها روند نصب کمره‌های امنیتی جبری و در دیگر بخش‌های شهر کابل اختیاری است. حکومت پیشین افغانستان نیز برای تامین امنیت شهر کابل، روند نصب کمره‌های امنیتی را در جاده‌های کابل روی دست گرفته بود اما موفق نشد.

# د زلزلې له زیان څنګه ځان وژغورو؟

عرفان الله شرفزوی

زلزله د ځمکې د لړزې یو الهي افت دی، چې څو ثانیې دوام کوي او ډېری وخت انسانانو ته د مرګ ژوبلې د اړولو ترڅنګ کورونه او ودانۍ ړنګوي. کله چې هم د زلزلې له امله په یوه ټولنه کې مرګ ژوبله او مالي زیان رامنځ ته شي، نو د خیرپالو ټولنو او وګړو وجیبه وي، چې د زیانمنو وګړو لاسنیوی وکړي او د زلزلې له زیانونو یې وژغوري.

هر کال په نړۍ کې سلګونه زلزلې پېښېږي، چې په منځنۍ توګه په هره دقیقه کې یوه یا دوه زلزلې د ځمکې خاورینه کُره لړزوي. زلزلې یوازې په وچه کې نه، بلکې په سمندرونو کې هم رامنځ ته کېږي.

**د زلزلې د رامنځ ته کیدو لاملونه :**

پوهانو په وروستو دوه پېړیو کې د زلزلې د رامنځ ته کېدو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کړي، خو تر اوسه واحدې نظریې ته ندي رسیدلي. ددغه نظریو په رڼا کې ویلی شو، چې زلزلې په ځمکه کې د داخلي محرکه قواو په شتون کې د لویو چاودنو له امله رامنځ ته کېږي، خو د رامنځ ته کیدو سبب یې د الله سبحانه و تعالی له لوري د انسانانو وېرول دي؛ ترڅو د شریعت پر سمه لاره روان واوسي او له نواهیو ځانونه وساتي.

**د زلزلې مرکز او څپې :**

هره زلزله یو مرکز لري، چې له دې مرکزه د زلزلې څپې او موجونه هر لوري ته خپرېږي. لکه څنګه چې مونږ د اوبو ډنډ ته یوه تیږه وغورځوو، نو څومره چې څپې د تیږې له ځایه لرې کېږي په همغه کچه یې شدت او سرعت کمېږي. د زلزلې څپې او موجونه همدا ډول دي؛ څومره چې دزلزلې څپه له مرکزه لرې کېږي په همغه کچه یې شدت او زیانونه کمېږي. د زلزلې مرکز د ځمکې په ژوروالي کې له ۱ څخه تر ۸۰۰ کېلو مترو پورې وي. که چېرې د زلزلې مرکز له خلکو د ډکې سیمې لاندې وي، نو پراخ ځاني او مالي زیانونه به رامنځ ته کړي. دغه ډول زلزلو د هېواد په بدخشان، تخار، کابل او غزني په ولایتونو کې په تېر کې زیات زیانونه اړولي. د زلزلې د څپو چټکتیا په ځمکه کې په میده خاورو کې ۲.٥ کېلو متره او په شګو او جغل کې په یوه ثانیه کې ۱.٥ کېلو مترو ته رسېږي.

**د زلزلې وړاندوینه :**

که څه هم تراوسه څېړنو نده جوته کړې، چې له زلزلې وړاندې په یقیني توګه کوم څه پېښېږي، چې مونږ یې د زلزلې د راتګ وړاندوینه وبولو؛ خو ځینو تجربو ښودلې، چې له زلزلې وړاندې ښاروي، خزنده او مرغان ځانګړي غبرګونونه ښیي، نارامه حرکتونه ترسره کوي او د تېښتې هڅه کوي. تراوسه انسان په دې نه دی توانېدلی، چې وپوهېږي د کومې وړاندوینې پر مټ کله او چېرته زلزله رامنځ ته کېږي.

**په افغانستان کې زلزلې :**

افغانستان د ځمکې د کُرې له هغو زلزله لرونکو سیمو دی، چې د مدېترانې په کمربند کې پروت دی. دا کمربند له پرتګاله پیل کېږي او د مدېترانې له حوزې، تورې بحیرې، منځنۍ اسیا او هُمالیا تېرېږي او تر اندونیزیا غځېدلی. د ځمکې په کُره کې له ټولو رامنځ ته کېدونکو زلزلو په ۱۰۰ کې ۱۷ یې په همدې کمربند پورې اړه لري.

په افغانستان کې هم د نړۍ د نورو برخو په څېر له ډېر پخوا زلزلې منځ ته راغلي، خو لومړني مستند اسناد یې د بابر پاچا یادښتونه دي، چې په کې په ۱۵۰۵ زېږدیز کال کې په کابل کې د یوې زلزلې له امله د ډېرو وګړو د مړینې او کورونو د ړنګېدو یادونه شوې. له هغې راپه دېخوا په لسګونو لویې او کوچنۍ زلزلې رامنځ ته شوي، چې زرګونه وګړي یې شهیدان کړي او لسګونه زره کورونه یې نړولي. وروستۍ لویه زلزله په پکتیکا او خوست ولایتونو کې هممهاله وه، چې له ۱۰۰۰ پورته هېوادوالو یې شهیدان او ټپیان کړل او ۲۱۰۰۰ څخه زیات کورونه یې ونړول.

**له زلزلې وړاندې باید څه وکړو؟ :**

- ددې لپاره چې د زلزلې پر مهال مونږ ته ځاني او مالي زیان پېښ نشي، نو له هر څه لومړی لازمه ده هغه وداني چې مونږ په کې هستوګنه کوو د ودانیو چارو له ټاکلو شرایطو سره برابر جوړه شي.
- د الماریو پر سر له ډېرو شیانو په ځانګړې توګه د ښېښه یي لوښو له کېښودلو باید ډډه وشي.
- ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته په کور او ښوونځیو کې له زلزلې د ځان ساتلو لارښووني او تربیت ورکړئ.
- د زلزلې پر وخت باید برېښنا پرې شي او د ګاز او اوبو نلونه بند شي، ځکه د ګاز او برېښنا له امله د اور لګېدو وېره وي، چې د زیاتو مالي او ځاني تلفاتو وېره هم ورسره مله وي.

د زلزلې پر مهال باید څه وکړو؟ :

- کله چې زلزله شي، نو باید خپل حواس او زغم له لاسه ورنکړو، د ارام اوسېدلو هڅه وکړو، د کور غړو ته ډاډ ورکړو او که د کورنۍ کوم غړي ته مو ستونزه رامنځ ته شي، نو په بیړه یې مرسته وکړو.
- باید کوښښ وکړو له ودانۍ ځان او د کورنۍ غړي انګړ او یا کوڅې ته وباسو؛ ترڅو د ودانۍ د چت د نړېدو، د دیوالونو د راپرېوتو، د برېښنا د مزو د شارتۍ له زیان او له پاسه د توکو د رالوېدو له امله زیانمن نشو.
- د زلزلې پر وخت باید د اور د لګولو هڅه ونکړو.
- د بدن د نورو غړو په پرتله باید د سر ساتنې ته لومړیتوب ورکړو؛ کم تر کمه په بیړه پرې د خپلو لاسونو څنګلې پاس ونیسو.
- که چېرې د زلزلې پر مهال په موټر کې سفر کوو، نو باید د زلزلې د چټکو تر پای ته رسیدو پورې موټر ودروو او که د کوم پُل لاندې واوسو، نو په بیړه باید له پُل لرې شو.
- باید د زلزلې پر مهال پر برېښنا له ګرځېدونکو (چلېدونکو) توکو ګټه وانخلو، ځکه شونې ده برېښنا پرې شي او مونږ خوندي ځای ته د ځان له رسولو بې برخې شو.

**له زلزلې وروسته باید څه وکړو؟ :**

- لومړی باید خپل ځان وګورو، چې زلزلې خو مونږ ته کوم جسمي زیان ندی رسولی؛ که مونږ روغ یو او یا سرسري ټپ ولرو، نو باید د کورنۍ د غړو او یا نورو ټپي شویو وګړو لاسنیوی وکړو او په بیړه یې د درملنې مرکز ته ورسوو.
- له نړېدلو او نیمه نړېدلو ودانیو باید لرې شو، ځکه کېدای شي د زلزلې بله جټکه رامنځ ته شي او نیمه نړېدلې ودانۍ به مونږ ته زیان واړوي.
- په څو ساعتونو کې د بیا زلزلې د احتمال لپاره لازم چمتووالی باید ونیسو، ځکه ډېری وخت په یوه زلزله پسې څو ساعته وروسته د بلې زلزلې امکان وي.
- ودانۍ ته له ننوتلو وړاندې باید د ودانۍ ارزونه وکړو؛ ترڅو ډاډه شو چې ودانۍ ته په ورننوتو کومه داسې نړېدلې برخه خو به شتون نه لري، چې زمونږ د ورننوتلو له حرکاتو ونړېږي او مونږ ته زیان واړوي. که چېرې داسې کوم څه وینو، چې ودانۍ ته زمونږ د ورننوتلو له حرکاتو سره یې د پرېوتو امکان وي، نو باید ودانۍ ته ورنېږدې نشو.
- کومو رسنیو ته مو چې لاسرسی شونی وي؛ باید زر تر زره یې وڅارو او د شوې زلزلې له اړولي زیان او د زیانمنو د لاسنیوي له مرستې خبر شو.
- کله چې زلزله د باران پر مهال وشي، نو باید له زلزلې وروسته له ودانیو ووځو او له ودانیو لرې ځای ته ځانونه ورسوو، ځکه شونې ده له زلزلې وروسته د زلزلې له امله نړیدو ته نېږدې شوې ودانۍ باران ونړوي.



# د شرعي حدودو؛ د پلي کولو ضرورت!

حسان مجاهد

اسلام دعدل دین دی او مسلمانانو ته یې په ژوند کې داسې قوانین وضع کړي دي چې له مخې یې دټولنې وګړي په امن او سوکالۍ کې ژوند تیر کړي. تر هغه وخته چې مسلمانان په اسلامي روحیه سمبال وي، دنورو وګړو دحقوقو درناوي ته ژمن پاتې شي او له لاسه یې نور وګړي متضرر نه شي؛ بیا کومه ستونزه نه پیښېږي. البته کله چې مسلمانان په ژوند کې له ټاکلو پولو څخه تجاوز کوي، منکر اعمال ترسره کوي او دخلکو مال او ځان ته زیان اړوي؛ بیا نو دشریعت په رڼا کې په دوي باندې د عمل مطابق حد پلي کیږي او په سزا رسېږي. داسې هم نه ده چې اسلام یوازې دعقوباتو(سزا ګانو) دین دی، لکه غربیان او مستشرقین چې وایي، بلکې اسلام دعقائدو، عباداتو، معاملاتو او حقوقو قانون او تګلاره هم ده.

علامه ابن قیم رح ویلي: دشرعي حدودو تنفیذ یو عبادت دی لکه دالله تعالی په لاره کې جهاد کول، دحدودو تنفیذ دالله تعالی له لوري په بندګانو یو رحمت دی، والي باید دحدودو په تنفیذ کې ډیر جدي اوسي او دی باید د زړه سواندي له امله حدود معطله نه کړي. د حد له نافذولو څخه به د والي موخه په خلکو شفقت وي چې له منکراتو را منع شي، نه ددې لپاره چې خپل قهر سوړ کړي او په خلکو برتري وکړي. لکه پلار چې زوی ته داصلاح لپاره سزا ورکوي، که پلار سزا پریږدي نو زوی به فاسد شي او یا لکه طبیب/ ډاکټر چې مریض ته دده دصحت په خاطر ترخه دوا ور کوي. دده نیت به درعیت اصلاح، له منکراتو راګرزول او د الله تعالی رضا وي، بیا نږدې ده چې ده ته به الله تعالی د بندګانو زړونه ور واوړي. {السیاسة الشرعیة في أصلاح الراعي والرعیة ص ۱۲٥}

دشرعي حدودو په پلي کولو کې خورا ستر حکمتونه نغښتي دي؛ چې یو شمېر یې په لاندې توګه بیانیږي:

**۱_ دحد له پلي کیدلو څخه د مجرم عبرت:**

کله چې په مجرم باندې کوم حد پلي شي؛ نو په راتلونکي کې مجرم له ناوړو کړنو څخه ځان ژغوري او ویره لري چې بیا دخپل عمل په سزا ونه رسېږي. یو څوک جاهل، ګمرا، ضعیف الایمانه او یا عنادګر انسان وي چې وعظ او تبلیغ هیڅ اغیز نه پرې کوي، ځیني له الهي عذابه ویره نه لري او ځیني حتی ایمان نه پرې لري، نو دداسې کسانو دسمون لپاره له سزا پرته بله هیڅ لاره نشته، دعثمان او عمر (رضی الله عنهما) څخه دا قول را نقل شوی دی چې« الله تعالی بعضي کسان دقرآن په ذریعه نه، بلکې دباچا په لاس اصلاح کوي.

**۲_ ټولیزه ګټه:**

په ټولیزه توګه دحدودو د تطبیق ګټه داده چې په ټولنه کې نور خلک دحد له تطبیق څخه اغیزمن شي او دا احساس ورته پیدا کیږي چې که دوی هم ورته عمل ترسره کړي بیا به دمجرم په څیر دخپل عمل په سزا ورسېږي.

**۳_ د حد له پلي کیدو څخه دکفارو اغیزمنتیا:**

دحدودو په تنفیذ سره له مسلمانانو ور هاخوا کفار هم اغیزمن شي او اسلام ته یې رغبت پیدا شي، چې په اسلامي ټولنو کې مجرم ته دا ډول سزا ورکول کیږي! داسلام په لومړیو کې ډیر کفار له حدودو اغیزمن شوي او ایمان یې قبول کړی دی. مثلاً دمسلمان او کافر به جنجال شو اود فیصلې وروسته به کافر ته خپل حق ورکول شو؛ نو کافر به حیران شو چې اسلام دا سې دعدل دین دی! نن چې په غربي هیوادونو کې د غلا، جنسي زورونې او اختطاف تر څنګ نور پراخ فسادونه په جدیت سره روان دي او دغربي قوانینو له مخې دمجرم پر وړاندې څوک دمجازات غږ نه شي کولای؛ شاید دوي په اسلامي ټولنو کې دشرعي حدودو تنفیذ ته په کتو متاثره شي او اسلام ته را واوړي.

**۴_ځمکه له فساده ژغورل:**

په کومو ټولنو کې چې مجرمین سرې سترګې ګرځي او د حیواناتو په څېر په خپله خوښه په پراخه کچه منکرات او فاحش اعمال ترسره کوي، نو هغه ټولنه له فساده ښې برخمنې وي او الله جل جلاله وایي «په ځمکه کې له اصلاح وروسته دفساد هڅه مه کوئ» (سورة اعراف ٥٦)ډیرو اسلافو ویلي دي چې په ځمکه کې اصلاح د رسول الله ﷺ په بعثت او ددین په اشاعت سره رامنځته کیږي او فساد بیا هغه مهال رامنځته کیږي چې منکرات په پراخه کچه روان وي او مخنیوی یې نه کیږي.

**٥_ دحد په تنفیذ کې دژویو ګټه:**

د حدودو په تنفیذ سره انسانان څه چې حیوانات هم په راحت کې کیږي. عکرمه رضی الله عنه وایي: کله چې قحطي راشي نو دځمکې ټول حیوانات او حشرات وایي«له موږ څخه باران دانسان دګناه په وجه منعه شوی ده». رسول الله ﷺ وایي: په ځمکه کې یو حد نافذول د څلوېښتو ورځو تر باران غوره دی.[نسائي او إبن ماجه] یعنې لکه څنګه چې دباران په اورښت سره نباتات، حشرات او حیوانات له ژوند څخه تازه او نوی خوند اخلي؛ دا شان دحدودو په نفاذ سره دفساد مخنیوی کیږي، دخلکو مال او ځان په امن کې کیږي او په حیواناتو، حشراتو او نباتاتو هم دالله تعالی رحمت را نازلیږي. دا چې اوسمهال دنړۍ پر مخ یوازې افغانستان دی، چې دحاکم اسلامي نظام تر چتر لاندې مجرمینو ته سزا ورکول کېږي او شرعي حدود پلي کیږي، دشکر او ستاینې ځای دی او په نوره نړۍ کې هم د ورته نظام غوښتونکي یوو.

# شعر او ادب

## غزل

**انس حقاني**

هېر شوو، افسانې شوو، د عالَم له نظر واوښتو
موږ هم ډک جامونه وو، خالي شوو، په سر واوښتو
چا وېل چې حسین به په سرو وینو کې لت پت نه کړي
دا معقوله نه ده چې نظر د شمر واوښتو
دوی مو نابودۍ ته چې تر ټولو پولو واوښتل
موږ بیا تر سرحد د حوصلې څخه ور واوښتو
گام په گام دامونه د حسد وو، د خدای فضل و
موږ په کرامت د مینې څه په هنر واوښتو
هر څه اندازه لري، سږ زده دې له بارانه کړل؟
خیر و، خو چې ډېر شو، نو سیلاب شو په شر واوښتو
تور تیاره بیابان کې له انسه لاره ورکه وه
نن ایله د یار د ورکو پلو په اثر واوښتو

## د عمر مزار!

**راشد کامران**


څومره یک تنها، بې هدیرې د قلندر مزار
دغه د عمر دی که دوخت دابوذر مزار
صبر قندهاره! خاورې خپل خمیر ته لاړلې
سیوري نه څلور کونجه جهان کړ معطّر مزار
راشيءدا منظر له یوه بله اړخه وگورو
توره شپه وه، جوړ کړ قافلې پر خپل رهبر مزار
خلک غواړي زر د ځمکې مینځ څخه را او باسي
موږ بیا تورو خاورو ته سپارلی دی سره زر مزار
کاش چې هر سهار مو سترگې یخې په زیارت ولای
کاش کې چې یې جوړ وای د شمشاد د غره په سر مزار
خیر دی راشده مېړه مري، مېړانه پاتې وي
تیرې که پیرۍ شي بیا یې هم لري اثر مزار

## غزل

**حضرت حافظ (رح)**

ای بی خبر بکوش که صاحب خبر شوی
تا راهرو نباشی کی راهبر شوی
در مکتب حقایق پیش ادیب عشق
هان ای پسر بکوش که روزی پدر شوی
دست از مس وجود چو مردان ره بشوی
تا کیمیای عشق بیابی و زر شوی
خواب و خورت ز مرتبه خویش دور کرد
آن گه رسی به خویش که بی خواب و خور شوی
گر نور عشق حق به دل و جانت اوفتد
بالله کز آفتاب فلک خوبتر شوی
یک دم غریق بحر خدا شو گمان مبر
کز آب هفت بحر به یک موی تر شوی
از پای تا سرت همه نور خدا شود
در راه ذوالجلال چو بی پا و سر شوی
وجه خدا اگر شودت منظر نظر
زین پس شکی نماند که صاحب نظر شوی
بنیاد هستی تو چو زیر و زبر شود
در دل مدار هیچ که زیر و زبر شوی
گر در سرت هوای وصال است حافظا
باید که خاک درگه اهل هنر شوی

## د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سپېڅلی ژوند




# قریشو ته لیک

**لیکنه: محمود شلبي / ژباړه: محمد علي عظمت / اته شپیتمه برخه**



کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مکې مکرمې ته د تللو پرېکړه غوته کړه، حاطب بن ابو بلتعه رضی الله عنه قریشو ته لیک ولیکه، په هغه کې یې خبرول، چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مکې ته د تللو کار وو.

بیا هغه (لیک) یې یوې ښځې ته ورکړ، مزدوري یې ورته ومنله، څو دا لیک قریشو ته ورسوي.

نو هغې دا لیک په خپلو کوڅیو کې کېښود او بیا روانه شوه، ووتله.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له آسمانه د هغه څه خبر راغلو، چې حاطب رضی الله عنه کړي وو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم علي بن ابوطالب او زبیر بن عوام رضی الله عنهما یې واستول او ورته ویې ویل: «تاسو دواړه هغه ښځه پیدا کړئ، له هغې سره لیک دی، چې حاطب بن ابوبلتعه رضی الله عنه کښلی او قریش له هغه څه خبروي او وېروي، د کوم لپاره چې مونږ پرېکړه کړې ده».

نو دواړه روان شول، څو یې هغه پیداکړله... بیا یې له سورلۍ نه ښکته کړه، د هغې په بار کې یې هغه (لیک) ولټاوه، خو پیدا یې نه کړ، بیا علي رضی الله عنه ورته وویل: په الله جل جلاله دې زما قسم وي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دروغ نه دي ویلي او نه مونږ دروغ وایو، یا به مونږ ته هرومرو لیک راباسې او یا به دې لوڅوو.

کله یې چې د هغه ټینگار ولیده، نو ویې ویل: څنگ ته شه.

هغه یوې خوا ته شو، دې خپلې کوڅۍ پرانیستې، لیک یې ترې راوویست او هغه ته یې ورکړ.

بیا یې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راووړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم حاطب را وغوښت، ورته ویې ویل: «اې حاطبه! دې ته، څه وپارولې؟»

هغه وویل: اې د الله رسوله! په الله جل جلاله قسم، چې زه بېشکه مومن یم، په الله او د هغه په رسول ایمان لرم، نه مې تغیر کړی او نه مې بدلکړی، خو زه داسې کس یم، چې په قوم کې خپل خپلوان نه لرم او د دوی په منځ کې زما خېلخانه او کورنۍ ده، نو ما په هغو نرمي وکړه.

نو عمر فاروق رضی الله عنه وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! ما پرېږده چې زه د ده څټ ووهم، بېشکه دې سړي منافقت وکړ.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: «اې عمره! ته نه پوهېږې، الله جل جلاله د بدر اصحاب کرام او الله جل جلاله د حاطب رضی الله عنه په اړه دا آیت نازل کړ: ژباړه: اې مومنانو! تاسو زما له دښمنانو او ستاسو دښمنانو سره داسې دوستي مه نیسئ، چې هغوی ته د مینې پیغام ولېږئ. د ممتحنه (۱) آیت.

**په روژه کې روانېدل او وتل**

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفر لپاره روان شو او ابورهم کلثوم بن حصین د مدینې امر وټاکه.

او د هجرت په اتم کال چې د رمضان ورځې وتلې وې، له کوره ووت.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم روژه ونیوله او مسلمانانو هم روژه ونیوه، تر دې چې کدید نومي ځای ته ورسېده، روژه یې ماته کړه.

بیا روان شو، څو مرّالظهران کې له لس زره لښکر سره دمه شو.

او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ټول مهاجرین او انصار لاړل او له هغوی څخه هیڅوک هم پاتې نشو.

**د حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه د اسلام راوړلو کیسه**

او رښتیا چې عباس رضی الله عنه په کومه لار کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شو، له هغه سره جحفه کې مخامخ شو، په داسې حال کې چې له خپل اولاد سره د هجرت په نیت روان وو او له دېوړاندې په مکه کې میشت و، حاجیانو ته د اوبو ورکولو دنده یې ترسره کوله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې خوښ وو.

او همداشان هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ته هجرت کوونکی ووت، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه په لاره کې ومونده او دی د مکې فتح کولو ته روان وو.

# د حسد علاج!

**س. سعید**

د چا په عزت، مالدارۍ یا شهرت ځورېدل او په غم یې خوښېدل؛ کینه یا حسد بلل کېږي. دا ډېر ناوړه کار دی، ځکه چې یو خو یې گناه کېږي او بل یې زړه هم له کینې او خفگانه ډکېږي، چې په دې توگه یې د دنیا او آخرت ژوند تباه کېږي.

نو له دې آفته د وتلو هڅه په کار ده. طریقه یې دا ده چې له ځان سره سوچ وشي چې ما ته به د دې کینې گټه څه وي، ایا د بل کس گټه، شهرت او عزت ما ته څه تاوان رسولی شيء؟ نه، بلکې په دې سره خو یوازې زما نېکۍ بربادېږي او ژوند مې ترېخېږي.

په حدیث شریف کې راځي: کینه نېکۍ داسې خوري لکه اور چې خس خشاک خوري.

دا ځکه چې کینه خو په حقیقت کې داسې ده لکه په اللّه تعالی چې اعتراض کوي؛ چې پلانی د دې نعمت وړ نه ؤ، تا ولې ورکړی؟ نو توبه، توبه. د الله تعالی مقابله څومره بد کار دی. کینه کوونکی په دنیا کې تل غمجن وي، خو چا سره چې حسد لري؛ هغه ته هیڅ تاوان نه شي رسولی، یوازې خپل زړه خوري او بس. بلکې هغه کس ته خو یې لا گټه هم ور رسېږي، ځکه چې د ده نېکۍ هغه ته ورځي.

نو اې مسلمانه! لږ له ځان سره په دې خبرو فکر وکړه او پر زړه زور راوړه. کینه په دې طریقه ختمېدلی شي چې د خلکو پر وړاندې د هغه کس صفت کوه چې ته ورسره کینه لرې. د هغه په اړه داسې وایه: د اللّه تعالی شکر دی چې فلاني ته یې داسې داسې نعمتونه ورکړي. خدای دې ورته دوه چنده کړي. همداراز له هغه کس سره چې مخامخ کېږې نو احترام یې لره او مینه ورسره کوه.

دا کارونه به لومړی ډېر درته مشکل ښکاري، خو ورو ورو اسانېږي او بالآخره به ان شاء الله حسد بالکل ختم شي.

# د بلاط الشهداء جنگ!

**محمد جاوېد حنیف**

د بلاط الشهداء جنگ د فرانس یا اوسني فرانسې په زمکه باندې داسې یو جنگ وو چې که مسلمانانو گټلی وای نو نن به په ټوله اروپا باندې د مسلمانانو حکومت وو مسلمانانو د اندلس د حاکم عبدالرحمن الغافقي په مشرۍ کې په ( ۷۳۲ ) م کې د صلیبیانو سره یو خطرناک جنگ وکړ او نږدې وو چې د صلیب زامنو ته شرموونکې ماتې ورکړي ، په داسې موقع باندې چې مسلمانان د فتحې په درشل کې وو نو دښمن دا افواه خپره کړه چې :

په نورو جنگونو کې چې مسلمانانو کوم د غنیمت مالونه نیولي و هغه په خطر کې دي او دښمن وربانـدې قبضه کول غواړي ؛ هماغه وو چې مسلمانان د دښمن په شیطاني چال کې راغلل ،

میدان یې پرېښود او په هغه طرف روان شول کوم ځای کې چې د غنیمت مالونه وو ، د دې حالت په لیدلو سره عبدالرحمن الغافقي رحمه الله مسلمانانو ته ډېر غږونه وکړل خو هغوی راواپس نه شول ، دښمن چې کله د مسلمانانو شمېر بیخي کم ولیده نو راواپس شول او عبدالرحمن الغافقي رحمه الله یې شهید کړ ، د عبدالرحمن الغافقي رحمه الله د شهادت څخه وروسته د پاتې مسلمانانو مورال هم کمزورۍ شو چې له امله یې د ډېرو مسلمانانو په شهادت سره مسلمانانو ماتې وخوړه او په ټوله نړۍ باندې د مسلمانانو د حکومت او خلافت خوب تر سره نه شو .

ماخذ: د اسلامي تاریخ زړور سپاهیان

# د بنسټیزو پروژو عملي کول د هیواد په اقتصاد کې ستر ارزښت لري

شاه محمود درویش

له شک پرته چې په بنسټیزو پروژو پانګونه کولی شي دهیواد اقتصادي بنسټونوته ورځ تربلې او په تدریج سره یعنې په لنډمهال، منځ مهال اواوږدمهال کې وده ورکړي اوافغان ولس له ګڼ شمیرستونزو څخه وژغوري چې دا واقعا دسیمې اونړۍ له هیوادونوسره دهراړخیزو اړیکو اوهمکاریو په ټینګښت کې شونې ده ، چې یوله دغو پروژوڅخه هم د تاپي ستره پروژه ده چې دګازونل لیکه له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان اوهندوستان ته غځوي، البته د تاپي د پروژې طرحه د رسنیو په حواله کابو څو کاله وړاندې یعنې د افغانستان د اسلامي امارت د تیر حاکمیت پر مهال د افغانستان پاکستان او ترکمنستان مشرانو له خوا وړاندې شوه. هندوستان په کې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې شامل شو. ددغې پروژې د نل لیکې اوږدوالی ۱۸۱٤ کیلومتره دی چې ۸۱٦ کیلومتره یې د افغانستان د هرات، کندهار، هلمند، فراه او نیمروز له ولایتونو څخه تیریږي.

په افغانستان کې د تاپي پروژې کار کابو څو کاله وړاندې د افغانستان ، ترکمنستان ، پاکستان او هندوستان د وخت مشرانو له خوا رسما په هرات ولایت کې پرانیستل شوی، له شک پرته چې دا نل لیکه د سیمی په تاریخ کې ستره پیښه ده ، چې د افغانستان له لاری د ترکمنستان ګاز پاکستان او هند ته لیږدوي دا د سیمی د پرمختګ ، باور او ښو اړیکو په تیره بیا د امنیت او ثبات لپاره ستره بیلګه ده .

البته په دې وروستیو کې په هیوادکې دډله ییزوخپرندویو سرچینوپه حواله د تاپي(TPI) د ګازو نل لیکي د پروژې په اړوند د خبرو لپاره د افغانستان اسلامی امارت د بهر نیو چارو وزارت پلاوي ترکمنستان هیواد ته سفرونه کړی او د یادې پروژې په هکله یې د نوموړي هیواد له چارواکو سره لازمې او ګټورې خبری کړیدي او ویل شوي چې انشاالله په نږدې راتلونکي کې به په افغانستان کې نوموړې پروژې عملي کار پیل شي. همداراز په دې وروستیوکې د افغانستان د اسلامي امارت د اقتصاد وزارت د مسئولینو له لورې هم ویل شوي چې افغانستان ددې توان او وړتیالري چې د تاپي پروژې د عملي کولو لپاره چې کوم لګښتونو ته اړتیا ده په دې برخه کې خپل سهم اداکړي ترڅو د یادې پروژې چارې په ښه توګه بیا پیل او پرمخ لاړې شي.

تاپي د افغانستان لپاره مهمه پروژه بلل کیږي، ځکه دغه پروژه د سیمه ییز امنیت او د ادغام له سیاست سره مرسته کوی او کولی شي، چې د سیمې لوبغاړي هیوادونه لکه پاکستان او هند په ګډو ګټو کې سره متحد کړي. د تاپي پروژې د ګازو نل لیکه ۱۸۱۴ کیلومتره اوږدوالي لري، چې د ترکمنستان سرحدي ولایت ماري څخه پیلیږي او د ۸۱٦ کیلومتره په اوږدوالي د افغانستان له خاورې د هرات، فراه، نیمروز، هلمند او کندهار ولایتونو څخه تیریږي، پاکستان او وروسته د هند فاضیلکا ښار پورې رسیږي. د دې پروژې ټول لګښت لا پخوا له ۷ څخه تر ۹ ملیارده امریکایي ډالرو پورې اټکل شوی وو. دغه د ګازو نل لیکه په هر کال کې کابو ۳۳ ملیارد متر مکعبه ګازو لیږد ظرفیت لري. افغانستان به د خپلې اړتیا وړ ګاز تر لاسه کولو سربیره هر کال کابو څلورسوه میلیون ډالره د یادې پروژې د نل لیکې د ترانزیټ له امله ترلاسه کړي او همدارنګه د تاپي پروژې د نل لیکې جوړولو لپاره به په افغانستان کې ډیری ځوانان د کار څښتن شي او د بیکارۍ په کموالي کې به مرسته وکړي. البته د اقتصادي چارو کارپوهان هم دا پروژه د افغانستان لپاره ګټوره بولي، دوئ هم هیله لري، چې ددې پروژې چارې ژر بشپړې شي ترڅوعام افغانان ترې برخمن شي.

همداراز د نظر دخاوندانو په باور دې ټکي ته مو باید پام وي چې د تاپي پروژه د افغانستان لپاره یوه ډیره مهمه اقتصادی پروژه ده او د افغانستان د اقتصادی ودې له پاره له ډیرارزښت څخه برخمنه ده، که چیری موږ دغه پروژه وارزوو ،هغسی چې افغانستان په سیمه کې دیوی سوداګریزی څلور لاری په توګه د جیوپولټیک او جیوستراتیژیک ارزښت درلودونکې دی،چې دغه پروژه به له یوی خوا دسیمې د هیوادونو تر منځ دسیاسی همکاری او پیوستون او له بله پلوه به له ترکمنستانه د افغانستان له خاوری پاکستان او هند ته د ګازو د نل لیکې د غځولو په بشپړیدو سر د سیمې امنیتی ثبات هم پر غوړیدو راولی، په ټولیزه توګه خلک د افغانستان د اسلامی امارت د تاپی په څیر د مهمو سیمه ییزو پروژو د تحقق ملا تړ کوی او هیله لری چې د یادې پروژې عملي کار په افغانستان کې پیل او چاری یې په ښه توګه پرمخ ولاړې شی او د عمل په ډګر کې هم مثبتې او عملی پایلې پر ځای پریږدي.

# ساخت چندین نرم‌افزار گوشی از سوی جوانان نیمروزی

گروهـی از جوانـان در نیمـروز موفـق شـده‌اند کـه چندیـن نرم‌افـزار (آپلیکشـن) بـرای تیلفون‌هـای همـراه بسـازند.

ایـن جوانـان می‌گوینـد کـه اگـر پشـتیبانی حکومـت را بـه دسـت بیاورنـد، دسـتاوردهای مهمتـر خواهنـد داشـت.

آژانـس خبـری باختـر بـه نقـل از یـک تلویزیـون خصوصـی خبـر میدهـد کـه احمـد سیر یـک تـن از ایـن جوانـان می‌گویـد در صورتـی کـه حکومـت وی و همـکاران‌اش را پشـتیبانی کنـد، می‌تواننـد بـه پیشـرفت‌های چشـمگیری دسـت یابنـد.

او میگوید:«کمپیوتـر در دسـترس مـا بـود و بعضـی امکاناتـی کـه بـود توانسـتیم چنـد دانه اپلیکیشـن بسـازیم و حـالا هـم در حـال رشـد اسـت، تقریبـا توسـط چندیـن کـورس قـرارداد بسـتیم اپلیکیشـن بـه آنـان می‌سـازیم.»

عمـران یـک تـن از جوانـان برنامـه سـاز، دیگـر در ایـن بـاره گفـت: «اگـر چیزهـای پیشـرفته‌تر بـه اختیـار مـا دولـت بگـذارد مـا می‌توانیـم چیزهـای بیشـتر و بالاتـری بسـازیم.» بـا ایـن حـال، مسـوولان محلـی در نیمـروز می‌گوینـد کـه از نـوآوران جـوان پشـتیبانی می‌کننـد.

عبدالرحیـم فیـاض، رییـس مخابـرات نیمـروز میگویـد : «بـرای پیشـرفت افغانسـتان در عصـر کنونـی همیـن جوانـان می‌تواننـد موثـر واقـع شـوند کـه افغانسـتان را همـراه بـا جهـان در رقابـت قـرار بدهـد.»

کارشناسـان، اسـتفاده از نرم‌افـزار یـا آپلیکشـن را بـرای ایجـاد سـهولت در کسـب و کارهـا، موثـر می‌داننـد.

عصمــت الله بارکــزی، کارشــناس تکنالــوژی، گفــت: «وقتـی کـه مـا از یـک اپلیکیشـن محاسـبات اسـتفاده بکنیـم می‌توانیـم کارهـای خـود را خیلـی بـا سـهولت بیشـتر بـه پیـش ببریـم.»

ایـن در حالی‌سـت کـه جوانـان در سال‌های گذشـته در ولایـت هـای دیگـر نیـز دسـتاوردهای مهمـی در سـاخت نرم‌افـزار تیلفون‌هـای همـراه و کمپیوتـر داشـته انـد.



# افغـــان اعـــلانـات

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد:**

بدینوسیله به تأسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، وزارت معادن و پترولیم در نظر دارد، قرارداد تدارک پروژه مقدار ١٤٢٠٠ اصله چوب تحکیماتی ضرورت ریاست تصدی ذغال سنگ شمال خویش را تحت شماره داوطلبی (MOMP/G-18/NCB-1401) به اساس حکم شماره ٢٧٧٧مورخ ١٤٤٤/٤/٢١ مقام محترم وزارت بشرکت خدمات لوژستیکی حمید نیازی دارنده جواز نمبر(D-02- 1980) با داشتن محل اصلی کوچه فرش ها مشرق پلازا ناحیه دوم شهر جلال آباد به مبلغ ١٢,٤٩٦,٠٠٠ دوازده میلیون وچهارصدو نودوشش هزار افغانی, اعطاء مینماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ٧ روز تقویمی در مطابقت به متحد المال شماره NPA/C08/ 1395 ریاست پالیسی تدارکات طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد**

بدین وسیله به تاسی از فقره ٢ ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود ، وزارت ارشاد ، حج و اوقاف در نظر دارد (پروژه چاپ ٤ اثر علمی – تحقیقی) خویش را به شرکت محترم طباعتی و بسته بندی بهیر دارای شماره جواز (D-713) واقع سه راهی مسجد حنظله ، شهر نو ناحیه ٤ شهر کابل ، به قیمت مجموعی (١،٥٤٤،٥٠٠) یک میلیون و پنجصد و چهل و چهار هزار و پنجصد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند ، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات وزارت ارشاد ، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرار داد منعقد نخواه شد.

***

**اطلاعیه مفقودی**

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم محمد صدیق فرزند محمد رحیم مفقود گردیده اعتبار ندارد.٢٩٥٥

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه اقامه کشور امارات متحده عربی به اسم محمد آصف فرزند عوض مفقود گردیده اعتبار ندارد.٢٩٥٦

***

**اطلاعیه مفقودی**

سند امتیاز سرقلفی دکان نمبر عمومی ١٢ مورخ ١٣٨٥/٢/٢٦ و نمبر دکان ١٧٣ واقع سرای شهزاده منزل دوم وسطی مارکیت تیمور شاه سدوزی مفقود گردیده بناء از اعتبار ساقط می باشد.٢٩٣١

***

**اطلاعیه به کرایه گیری**

ریاست عمومی اجرائیوی نساجی افغان موازی ٢١٥٤ متر مربع زمین ملکیت خویش واقع جوار فابریکه جنگلک مربوط ناحیه هفتم شاروالی را که اسامی سید جلال الدین فرزند سید زین العابدین خواهان عقد قرار داد زمین مذکور در بدل کرایه ماهانه مبلغ ٢٧٠٠٠ بیست و هفت هزار افغانی شده است. از طریق داوطلبی مزایده بشکل آفر سر بسته بکرایه میدهد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان مزایده جایداد متذکره باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی ١٤ یوم درخواست های خویش را به مدیریت عمومی خدمات شرکت دولتی نساجی افغان واقع سرک دارالامان کوچه مقابل صالون عروسی کابل دوبی تسلیم نموده شرطنامه را ملاحظه تضمین نقدا اخذ میگردد.٢٩٥٩

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم مهمند فرزند آدم خان ولدیت گل بت خان دارنده تذکره نمبر ( ٣٣١١٦-٠٩٠٢-١٣٩٩) مسکونه اصلی ولایت پکتیا مالک دواخانه عزت الله نصرت واقع ناحیه دوازدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عبید الله فرزند مومند ولدیت آدم خیل دارنده تذکره شماره (٥١٦٧٨-٠٦٠٠-١٣٩٩ ) مسکونه اصلی ولایت پکتیا گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ١٠ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (٢١٤) مراجعه نمایند.٢٩٥٣

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه کارت هویت یک قطعه جواز و یک طغرا مهر وکالت دفاع شماره ٥٩٣٢ مورخ ٢٦/ ٧/ ١٤٠٠ مربوط محترم محمد شهیر فرزند محمد قدیر که شماره متذکره نیز درج آن می باشد مفقود گردیده است بناء از اعتبار ساقط می باشد ٢٩٥٧.

***

**اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات**

محترم ایمل فرزند غلام داوود دارنده جواز شماره ( ٢٩٧٣ ) مورخ ١٥/ ٧/ ١٣٩٩ متصدی رهنمای معاملات ایمل خالد برادران واقع باغ رئیس ناحیه ٧ شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده است . بناء بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام ، بررسی و ثبت جمعیت ها و احزاب – وزارت عدلیه اطلاع دهند.٢٩٤٩

***

**اطلاعیه دعوت به داوطلبی**

موسسه بشر دوستانه انکشافی نجات (RHDO) جهت تطبیق بهتر پروژه های صحت مندی خویش در ولایات پنجشیر و هرات ادویه با کیفیت را از بهترین کمپنی های جهان خریداری مینماید بدین وسیله از تمام شرکت های که خواهش قرار داد به این موسسه را دارند از تاریخ نشر اعلان به مدت ٣ یوم آفر خویش را از دفتر مرکزی موسسه بشر دوستانه انکشافی نجات (RHDO) تسلیم شوند آفر از طریق ایمل قابل قبول نمی باشد.

آدرس : کارته چهار کوچه روبروی مسجد قندهاری خانه نمبر ١٩ پهلوی کورس ایلایت .

شماره تماس : ٠٧٣٠٨٥٩٥٩٥

٢٩٥٤

### والی هرات در مراسم برگزاری هفتمین جشنوارهٔ ملی زعفران:

# خودکفایی ما رمز موفقیت ما است

شریعت: هفتمین جشنوارهٔ ملی زعفران در هرات برگزار شد. مسئولان در ریاست زراعت، آبیاری و مالداری هرات از برگزاری هفتمین جشنوارهٔ ملی زعفران در این ولایت خبر می‌دهند. آنان می‌گویند که حاصلات زعفران امسال نسبت به سال گذشته افزایش یافته و کیفیت آن نیز بهتر شده است.
به گزارش خبرنگار محلی آژانس باختر؛ در این جشنواره که در ریاست زراعت هرات برگزار شده بود؛ مولوی پیر محمد حلیمی به شرکت‌ها خاطر نشان کرد که زعفران تقلبی را وارد بازار هرات نکنند و تمامی شرکت‌های کوچک و بزرگ تولید کننده زعفران را تحت پوشش قرار بدهند.
این سخنان وی در حالی مطرح می‌شود که در سال‌های گذشته زعفران تقلبی بنام زعفران هرات به بازار جهانی عرضه می‌شد، اما اکنون مسئولان امارت اسلامی اقدامات جدی با متخلفان خواهند کرد. از سوی دیگر شیخ نوراحمد اسلام جار والی هرات گفت: خودکفایی ما رمز موفقیت ما است و ادارهٔ محلی همکار دهاقین هرات است. والی هرات افزود: زعفران هرات در سطح جهان مقام اول را داشته و تلاش می‌ورزیم که از آن استفاده بهتر کنیم. در همین‌حال، بشیراحمد رشیدی رئیس اتحادیهٔ ملی زعفران کاران کشور می‌گوید که در این جشنواره ۳۷ غرفه اشتراک موجود است و در حال حاضر پروسس و بسته بندی زعفران کشور با معیارهای امریکا و اروپا همخوانی دارد. هم‌چنان دهاقین که در بخش زعفران فعالیت دارند؛ از امارت اسلامی می‌خواهند که زمینهٔ صادرات زعفران را از طریق دهلیزهای هوایی به خارج از کشور فراهم کنند.
این در حالی است که بیشترین زعفران در ولسوالی‌های غوریان، زنده جان، انجیل، گذره، کهسان و پشتون زرغون هرات تولید می‌شود و امسال نزدیک به هفت هزار هکتار زمین زعفران کشت شده است.




## گشایش یک مرکز تجارتی زنان ...

خرسند است و می‌گوید که در این مرکز زمینه بهتر کاری برای آنان فراهم شده است. گفتنی است که در حال حاضر، یک طبقهٔ این مارکیت به زنان تجارت پیشه اختصاص یافته است که در آن حدود ۴۰ زن مصروف فروش لباس‌های زنانه و طفلانه، صنایع دستی و مواد آرایشی استند.

## د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره د خپلو امکاناتو ترکچې لاس ...

مرستیال مولوي عبدالکبیر د چاپېریال ساتنې ملي ادارې او د ملي راډیو ټلویزیون ادارې د ښو خدمتونو مننه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د ژمي موسم کې د کابل ښار د ککړتیا په مخنیوي کې کوټلي ګامونه واخلي.
مولوي عبدالکبیر زیاته کړه: د هوا د ککړتیا مخنیوي او چاپېریال ته مو لومړیتوب دی او د چاپېریال ساتنې ادارې رئیس ته یې سپارښتنه وکړه، چې د دغه ادارې د له نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ د هوا د ککړتیا د مخنیوي لپاره د خپلو امکاناتو ترکچې لاس په کار شي.

## له امتیاز پرته د افغان حکومت ...

ترڅنګ له اسلامي امارت سره په هر ډول شرایطو کې د همکاریو ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې زموږ قوم له کوم امتیاز اخیستو پرته د اردو په څېر خدمت ته حاضر دی او د امنیت په ټینګښت کې خپلو همکاریو ته دوام ورکوو.
د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس ډاکټر ملا عبدالواسع یادو قومي مشرانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د جهاد په دوره کې د کوچیانو قوم کارنامې وستایلې او ویې ویل، چې کوچیان د افغانستان په اقتصاد جوړونه کې مهم رول لري او ورسره ژمنه یې وکړه، چې ستونزو ته به یې د اړوندو ارګانونو له لارې رسېدنه وشي.

## ایجاد یک صندوق وجهی از سوی سازمان همکاری‌های اسلامی ...

(حاجی ادریس)، سرپرست د افغانستان بانک با طارق علی بخیت نمایندهٔ خاص سازمان همکاری‌های اسلامی و داکتر محمد آل عیاش رئیس نمایندگی سازمان همکاری های اسلامی در افغانستان داشت از این اقدام سازمان یاد شده قدردانی کرد و گفت: افتتاح دفتر سازمان همکاری‌های اسلامی برای بهبود وضعیت و همکاری‌های اقتصادی با افغانستان نقش موثری ایفا خواهد کرد. نمایندهٔ خاص سازمان همکاری‌های اسلامی به نوبه خود خواستار همکاری د افغانستان بانک در زمینه انتقال وجوه کمک‌های بشری و توسعه‌یی شد.

## افغانستان او ایران په ګډه پوله یو صنعتي پارک...

د ایران د پانګونې په اړه خبرې شوې دي.
دغه راز په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو د خصوصي سکټور ترمنځ د خبرو اترو د پیلولو، د دواړو هېوادونو د خصوصي سکټور ترمنځ په پوله کې د ګډ صنعتي پارک د جوړولو او د افغانستان په ځینو زیربنایي پروژو کې د ایران تخنیکي همکاریو په باب هم بحث شوی دی.
د دې ناستې په پای کې د دواړو لوریو استازي د لازیاتو بحثونو لپاره وټاکل شول او د افغانستان اسلامي امارت او ایران اسلامي جمهوریت د خصوصي سکتور د خبرو په اړه همغږي او د ګډ کار تفاهم لیک رامنځته شو. په همدې حال کې په کابل کې د ایران سفیر پرون د کانونو او پټرولیم وزارت له سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سره په کتنه کې ویلي وو، چې لوی ایراني شرکتونه لېواله دي څو د افغانستان د کانونو په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي.

## نهادهای امدادرسان کمک ها را به ساکنین ...

ملا محمد عباس آخند، وزیر دولت در امور رسیدگی به حوادث با فهیم صافی نمایندهٔ سازمان بین المللی مهاجرت در افغانستان دیدار کرد.
در این نشست وزیر دولت در امور رسیدگی به حوادث گفت: نیاز است تا تمام فعالیت‌های موسسات ملی و بین المللی در هماهنگی با این وزارت، به منظور ارائه خدمات موثر که تاثیرات مثبت در زندگی مردم داشته باشد صورت گیرد.
وی با برشمردن اولویت‌های قوم قرغز از سازمان بین‌المللی مهاجرت خواست تا کمک‌های بشردوستانه زمستانی را برای این قوم در ولسوالی‌های واخان و پامیرها نیز توزیع نمایند.
سپس نمایندهٔ سازمان بین‌المللی مهاجرت در افغانستان روی ایجاد هماهنگی بیشتر با امارت اسلامی به خصوص وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث صحبت نموده، گفت که روند توزیع کمک‌های زمستانی را در چندین ولایت آغاز نموده و این روند را در سایر ولایات ادامه خواهد داد و در صورت امکان کمک‌های بشردوستانه را در پامیرها نیز برای مردم آسیب‌پذیر توزیع خواهد نمود.

## به مشکلات فدراسیون‌های ورزشی رسیدگی ...

ورزشی تکواندو، پاور لفتینگ، والیبال، بولینگ و گلف از سوی ریاست امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره نشستی برگزار شد. مولوی عبدالباقی منصور رئیس امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره امور در این نشست گفت، نام مدال آوران ورزشی ثبت صفحهٔ پر افتخار تاریخ کشور می شود و هدف ازبرگزاری این نشست، رسیدگی به مشکلات ورزشکاران و فدراسیون های ورزشی است.
در این نشست محمد ناصر نوری، پروفیسور داکتر نجیب الله سکندر، سید احمد سروش و محمد الله کتوازی رئیس و نماینده گان فدراسیون‌های یاد شده به نمایندگی از سایر اشتراک کنندگان در پیوند به دست آوردهای ورزشکاران و مشکلات در فدراسیون‌های ورزشی کشور صحبت کردند.
آنها، برگزاری همچون نشست‌ها را موثر خوانده، به برخی از مشکلات، از جمله نبود مکان‌های ورزشی معیاری، در مرکز و ولایات و کمبود معاش ورزشکاران ملی اشاره کرده، خواهان رسیدگی به مشکلات شان شدند.
منصور اطمینان داد که مشکلات آنها با رهبری امارت اسلامی افغانستان شریک ساخته می شود.

## اعلام همکاری ایران با شاروالی کابل در بخش پروژه‌های ...

وی تاکید کرد که روابط معنوی میان کابل و شهرهای ایران باید تقویت یابد و از فرصت‌ها، در راستای گسترش روابط در عرصه‌های مختلف، به ویژه در بخش علمی و فنی وهمکاری دو جانبه، استفاده موثر صورت بگیرد.
شاروال کابل، افزود: این نهاد در نظر دارد که از تجارب کشورهای همسایه در قسمت مدیریت زباله‌های شهری، بخش ترانسپورت و مسایل دیگر شهری، استفاده کند و همچنان تجارب اش را با کشورهای همسایه از جمله شهرداری های ایران شریک سازد.
بعد مستشار سفارت ایران در کابل و یک تن از تاجران ملی آن کشور وعده دادند که در بخش‌های ایجاد تصفیه خانه‌ها، مدیریت بهتر زباله‌ها، ساختمان کانال‌ها، ساخت پارک‌ها و پروژه‌های عمرانی، با شاروالی کابل همکاری خواهند کرد.

## صفر شدن تعرفهٔ گمرکی برای واردکنندگان مواد ...

نشستی با مسؤولان تصفیه خانه‌های کشور گفته است که به منظور حمایت از تولیدات داخلی، تعرفهٔ گمرکی برای مواد خام صفر شده است. در خبرنامه‌یی که دیروز از سوی وزارت صنعت و تجارت منتشر شده است آمده است: در این نشست که نمایندگان وزارت مالیه، شرکت نفت و گاز و ادارهٔ نورم و ستندرد حضور داشتند، مسئولان تصفیه‌خانه‌های کشور مشکلات شان را با سرپرست وزارت صنعت و تجارت شریک ساختند و خواستار حمایت این وزارت در بخش مواد خام برای تصفیه خانه‌های شان شدند.
سرپرست وزارت صنعت و تجارت با تأکید به حمایت از سرمایه‌گذاری در کشور، گفت: از هر تُن مواد نفتی ۱۱۴ دالر تعرفهٔ گمرکی گرفته می‌شود در حالی که برای وارد کنندگان مواد خام تعرفهٔ گمرکی صفر شده است.
در اخیر این نشست، تصمیم گرفته شده است که جهت توزیع مواد خام یک راهکار مشخص برای فعال نگهداشتن تصفیه‌خانه‌های کشور از سوی اداره‌های ذیربط آماده شود.

## یوه ۳۵ MI ډوله چورلکه ترمیم او الوتنې ...

دا په داسې حال کې چې د دې ډول چورلکو زیات شمېر نورې هم له دې څخه وړاندې د ملي دفاع وزارت د هوایي ځواک عمومي قوماندانۍ د تخنیکي انجنیري ټیم له لوري رغول شوې وې.

## هلمند کې د ویجاړو شویو سړکونو ...

چې د لښکرګاه په ټولو ناحیو کې د ویجاړو شویو سړکونو د بیا رغولو چارې د ښاروالۍ له بودجې پیل شوې دي.
د یادونې وړ ده چې له دې مخکې هم د هلمند ناوې ولسوالۍ کې د یوه سړک د بیا رغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی و.

## پنجشیر کې ۱۵۰ کورنیو ته برېښنا برابره...

رییس مولانا نصرالله ملک زاده د پرانیستې په مراسمو کې وویل چې د پنجشېر په مرکز بازارک کې د برېښنا رسونې یوې شبکې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه، چې د افغانستان اسلامي امارت سیمه ییز مسوولین هلې ځلې کوي، چې په راتلونکي کې د دغه شان شبکې په جوړولو سره د یاد ولایت ټولو اوسېدونکو ته برېښنا رسونې زمینه برابره کړي.
په همدې حال کې د پنجشېر برېښنا مسوول انجنیر شعیب نظري وایي چې د برېښنا رسونې دغه شبکه د افغانستان برېښنا شرکت له لوري د ۱۰۰ کیلو ولت په ظرفیت سره د یو میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې ده.
د یادونې وړ ده چې د یادې شبکې په جوړېدو سره ۱۵۰ کورنیو ته د برېښنا زمینه برابره شوې ده.

## زموږ دفتر به له غړیو هېوادو سره د اسلامي ...

په بېلابېلو په ځانګړي ډول د مشورې، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او د ظرفیت لوړولو په برخو کې لازیاته هراړخیزه همکاري، همغږي او مرسته وکړي.
نوموړي دغه راز په هېواد کې د هر اړخیز امنیت د ټینګښت، د کوکنارو پر کرکیلې بندیز او فساد له منځه تلو یادونه وکړه او ویې ویل، چې په تېرو شلو کلونو کې کابو ۵ میلیونه کسان په نشه یي توکو روږدي شوي، چې له ډلې یې کابو ۱ میلیون ښځې او ماشومان دي.

## چین کې د مېشتو افغان محصلینو د ستونزو ...

په چین کې د افغانستان سرپرست سفیر د یادو محصلینو د ستونزو تر اورېدو وروسته ژمنه وکړه، چې د حل په موخه به یې ګړندۍ هڅې وکړي.
سرپرست سفیر زیاته کړه، چې په چین کې د کرونا ویروس له کبله د رامنځته شویو شرایطو په نظر کې نیول سره به د افغان محصلینو لپاره د اسانتیاوو د رامنځته کولو او ستونزو د حل په موخه له اړوندو ارګانونو سره خبرې وکړي.
هېره دې نه وي، چې د چین د بهرنیو چارو وزارت د اسیایي څانګې مرستیال چین سنګ څور ورځې وړاندې په چین کې د افغانستان له سرپرست سفیر سره په کتنه کې د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړی و.

## غزني کې د ۵ لومړنیو ښوونځیو دروازې...

مولوي محمد منیر منصور د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې په سږ تعلیمي کال کې، پنځه ابتداییه ښوونځي په دغه ولایت کې نوي پرانیستل شوي دي.
منصور زیاته کړه، چې له دغو پنځو ښوونځیو څخه یې ۲ په ناوې، ۲ په اندړو او یو ښوونځی په خوګیانو ولسوالۍ کې نوي پرانیستل شوي چې په تېرو ۲۰ کلونو کې ورته د زده کړو برخه کې هېڅ پاملرنه نه وه شوې.
د نوموړي په وینا په دغو پنځو نویو ښوونځیو کې شاوخوا ۱۰۰۰ زده کوونکي په زده کړو بوخت دي او داسې نورې لرې پرتې ولسوالۍ هم شته چې اړتیا ده تر څو نوي ښوونځي په کې پرانیستل شي.

## افغانستان او پاکستان د روغتیایي همکاریو پر ...

لپاره د(College of Physicians & Surgeons Pakistan (CPSP څانګه په کابل کې پرانیستل شي، چې په مرسته به یې د MCPS او FCPS ټرېننګ د هېواد دننه ترسره کېږي.
دغه راز د پاکستان له خوا په افغانستان کې د درېیو جوړو شویو روغتونونو په منظم ډول په فعالېدو هوکړه، د روغتیایي کار کوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه کې ګډه همکاري او د پولیو په له منځه وړلو کې د دواړو هېوادونو په همغږۍ ټینګار او هوکړه شوې ده.
هېره دې نه وي، چې په دغو وروستیو کې د عامې روغتیا وزارت د ګاونډیو هېوادونو تر څنګ، له سیمه ییزو هېوادونو سره د افغانستان د روغتیایي سیستم د پیاوړي کولو لپاره په زیاته اندازه هڅې پیل کړې دي.

## د چمن لارې بندښت د دواړو لورو ...

چې پاکستان باید سیاسي او امنیتي موضوعات له سوداګریزو مسایلو لرې وساتي او په تشو پلمو دې پر اقتصاد او سوداګرۍ د فشار راوستلو هڅه نه کوي. د یادونې وړ ده چې له پاکستان سره د افغانستان سوداګرۍ تل له ستونزو سره مخ وي او اسلام اباد تل د افغانستان د صادراتو پر وړاندې خنډونه جوړوي. سوداګر وایي چې حکومت دې د افغانستان د صادراتو لپاره پر پاکستان تکیه ډېره راکمه کړي او د منځنۍ اسیا د هېوادونو له لارې دې نړۍ ته د افغانستان د تازه مېوو او سبزیجاتو د صادرولو زمینه برابره کړي.

## د هېواد په ۶ ولایتونو کې پر اړمنو کورنیو ...

برخې ۸۳۱ کورنیو ته د لمریزې برېښنا ټول توکي ورکړل شول.
په ورته وخت کې ننګرهار کرنې ریاست په هڅو او د OHW موسسې په مالي ملاتړ د دغه ولایت په لعل پورې او مهمندرې ولسوالیو ۴۰۰ بې وزله بزګرانو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې ورکړل شوې، چې په کې هر بزګر ته ۲۵ کیلوګرامه توره سره ۵۰ کیلو ګرامه سپینه سره او ۵۰ کیلو ګرامه د غنمو اصلاح شوی تخمونه ورکړل شول.
او دغه راز د کندز په کولاب ولسوالۍ کې ۱۵۰۰ بزګرانو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې ورکړل شوې.

Shariat
Twice printed in week


Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat ویب سایټ:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 17 November 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 102

بخیت:

# زموږ دفتر به له غړیو هېوادو سره د اسلامي امارت د اړیکو پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي



شریعت: د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د اسلامي همکاریو سازمان د بشري چارو مرستیال او د افغانستان لپاره د دغه سازمان ځانګړي استازي طارق علي بخیت، د یاد سازمان سیاسي مرستیال یوسف بن محمد الضبیعي او مل پلاوي سره په ارګ کې وکتل.

په پیل کې د اسلامي همکاریو سازمان ځانګړي استازي طارق علي بخیت وویل، چې په کابل کې یې د دفتر د خلاصون موخه له افغانانو سره د لازیاتو مرستو انسجام او د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو د فوق العاده غونډې د پرېکړو تطبیق دی.

طارق علي بخیت زیاته کړه، چې په کابل کې به د اسلامي همکاریو سازمان دفتر به د افغانستان اسلامي امارت او د دغه سازمان ترمنځ د اړیکو په لا پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي دوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ د یاد سازمان بشري او پر مختیایي مرستو ته د هر دول اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ او په افغانستان کې د اسلامي همکاریو سازمان د دفتر پرانیسته یې نېک فال وباله او دغه راز یې په سختو شرایطو کې له افغانستان سره د یاد سازمان د غړو هېوادونو له مرستو هم مننه وکړه.

مولوي حنفي د افغانستان څه د پاسه ۴۰ کلنو حالاتو ته په اشارې سره وویل، چې یاد وخت کې د افغانستان زېربناوو او افغانانو ته زیات زیان رسیدلی دی او په کار ده، چې د اسلامي همکاریو سازمان له افغانستان سره... ۷مخ

## احتراق بیش از ۲۰ تن مواد مخدر در هرات

شریعت: پولیس مدیریت مبارزه با مواد مخدرهرات، بیش از ۲۰ تن مواد مخدر را در آن ولایت آتش زد.

مسئولان پولیس مدیریت مبارزه با مواد مخدر ولایت هرات می گویند: مواد مخدر که آتش زده شد شامل هیروئین، کرستال، شیشه، تریاک، شراب، چرس و مواد کیمیاوی بود که در تولید انواع هیروئین استفاده می شد که در ۵ ماه گذشته از سطح شهر و ولسوالی های هرات به دست آمده بود.

چین کې د افغانستان سفیر:

## چین کې د افغان محصلینو د ستونزو حل لپاره لازم اقدامات ترسره کیږي




شریعت: په چین کې د افغانستان سرپرست سفیر سید محی الدین سادات په یاد هېواد کې له مېشتو یو شمېر افغان محصلینو سره وکتل.

په دغې کتنه کې افغان محصلینو د چین سفارت کړنې وستایلې او د اسنادو د تصدیق، پاسپورتونو د تمدید او ځینو نورو برخو کې یې خپلې ستونزې له سرپرست سفیر سره شریکې کړې.

افغان محصلینو په کتنه کې د چارو د لا ښه والي په موخه له سرپرست سفیر سره یو لړ وړاندیزونه هم شریک کړل. ۷مخ

## همکاری اتحادیه اروپا با سکتور معادن افغانستان

شریعت: شیخ‌الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم، با خانم رافیلا سفیر اتحادیهٔ اروپا در کابل، در دفتر کارش دیدار کرد.

وزارت معادن و پترولیم دیروز در خبرنامه‌یی گفته است که در این دیدار، سرپرست وزارت معادن و پترولیم در مورد منابع طبیعی افغانستان، فعالیت‌ها، عواید، شفافیت، حاکمیت ملی و امنیت سراسری در کشور معلومات داد و دست‌آوردهای امارت اسلامی افغانستان را در جریان ۱۳ ماه گذشته بیان کرد.

وی گفته است: ما سعی و تلاش داریم که سهولت‌های بیشتری را در سکتور معادن ایجاد کنیم تا فرصت‌های سرمایه‌گذاری در این سکتور ایجاد و شفافیت، سرعت و تحرک لازم تامین شود.

هم‌چنان در این دیدار دو طرف روی موضوعات مختلف، به خصوص وضعیت موجود در کشور، نیازمندی‌ها و راه حل جهت رسیدگی به مشکلات بحث و تبادل نظر کردند.

در همین‌حال، سفیر اتحادیهٔ اروپا در کابل، از همکاری وزارت معادن و پترولیم، در راستای تطبیق بهتر برنامه‌های این وزارت به نیکی یاد کرده و نقش وزارت معادن و پترولیم را در راستای پیشرفت و ترقی کشور حیاتی خوانده است.

وی ضمن وعده همکاری با بخش معادن افغانستان، از برنامه‌ها وکمک‌های بشری اتحادیهٔ اروپا برای افغانها، نیز یادآوری کرد.

باید گفت که پیش از این نیز شماری از سرمایه‌گذاران خارجی ، به سرمایه‌گذاری در بخش معادن افغانستان ابراز علاقه‌مندی کرده بودند.




## بامیانو کې درې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د بامیانو سیمه ییز مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په یکاولنګ لومړۍ نمبر ولسوالۍ کې د اوبو د زېرمې او کانال درې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

د یکاولنګ لومړۍ نمبر ولسوال حکمت الله حسین مجاهد د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې د اوبو د زېرمې دوه پروژې او د کرنیزو اوبو د کانال یوه پروژه د اسلامیک ریلیف موسسې له لوري د یادې ولسوالۍ په بکک ها او دهن سرداغ کلیو کې د ۱۲ میلیونو افغانیو په لګښت جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

نوموړي له خلکو وغوښتل، چې د یادو پروژو سمه ساتنه وکړي.



## غزني کې د ۵ ښوونځیو دروازې پرانیستل شوې

د غزني د پوهنې ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په لرې پرتو ولسوالیو کې د پنځو ابتداییه ښوونځیو دروازې پرانیستل شوې، چې سلګونه زده کوونکي په کې زده کړې کوي.

د غزني د پوهنې رئیس ... ۷مخ




## افغانستان او پاکستان د روغتیایي همکاریو پر پراختیا هوکړه وکړه

شریعت: د افغانستان د عامې روغتیا وزارت سرپرست وزیر ډاکټر قلندر عباد او ورسره مل پلاوي د پاکستان د عامې روغتیا له وزیر عبدالقادر پټیل سره په اسلام آباد کې وکتل.

په دې کتنه کې د روغتیا په برخه کې د دواړو هېوادونو تر منځ په دوه اړخیزو همکاریو ټینګار شوی دی.

په کتنه کې پرېکړه شوې، چې په کابل کې د افغان ډاکټرانو د نړیوالو نورمونو سره برابر د تخصص برنامې... ۷مخ

الکوزی:

## د چمن لارې بندښت د دواړو لورو په زیان ده



د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي چې د سپین بولدک - چمن لارې د تړل کېدو له کبله به د فرضي کرښې دواړو غاړو سوداګرو ته درانه مالي زیانونه واوړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې د رهبرۍ پلاوي غړي خانجان الکوزي ویلي چې دا مهال د کرښې دواړو غاړو ته په تازه مېوو او سبزیو بار ګڼ ګاډي ولاړ دي او په خبره یې چې که لاره ترلې پاتې شي نو په ګاډو کې بار مېوې او سبزۍ به له منځه ولاړې شي. پاکستاني لوري د چمن -سپین بولدک لاره تر هغې وروسته وتړله چې یوه نامالوم وسله وال پر پاکستاني پوځي برید وکړ او ویې واژه.

الکوزی وایي ... ۷مخ

## له زرګونو اړو او یتیمو کورنیو سره مرسته وشوه

شریعت: د شهیدانو او معلولینو چارو په وزارت کې د سروې له مخې په ۱۲۰ یتیمو کورنیو باندې نغدي مرسته او په روزګان کې د خوړو نړیوال سازمان له لوري پر ۱۰۰۰ اړمنو کورنیو د خوراکي توکو مرسته ووېشل شوه.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په یوې اعلامیه کې ویلي، چې د دغه وزارت له ۱۲۰ بیتیمانو سره نغدي مرسته وکړه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۷۳ زره افغانۍ ورکړل شي.

د یو بل خبر له مخې؛ د روزګان په شهید حساس او چهارچینو ولسوالیو کې له ۱۰۰۰ تنو بې وزلو سره د WFP په مالي ملاتړ او KRO په تخنیکي همکارۍ د خوراکي توکو مرسته وشوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹ لېټره غوړي، ۱۲ کیلو دال او یوه کیلو مالګه ورکړل شوه.

## کندهار کې د رواني ناروغانو درملنې مرکز پرانیستل شو

د کندهار د عامې روغتیا ریاست مسوولین وایي، چې په دغه ولایت کې د رواني ناروغانو د درملنې مرکز د سرې میاشتې له لوري د عینو مېنې په سیمه کې پرانیستل شو. د افغاني سرې میاشتې مرستیال ملانورالدین ترابي د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې په دغه روغتیایي مرکز کې به د کندهار ترڅنګ د ارزګان، هلمند او زابل ولایتونو د رواني ناروغانو درملنه هم کېږي.

د یادونې وړده چې یاد روغتیایي مرکز د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په حکم ترتیب او خدمت ته وقف شو.

## گشایش یک مرکز تجارتی زنان در هرات

**شریعت:** به منظور فراهم‌سازی سهولت‌های بیشتر در خرید و فروش برای زنان، یک مرکز تجارتی به نام (پرنس) دیروز در هرات افتتاح شد.

نرگس هاشمی رئیس اتاق تجارت و صنایع زنان زون غرب، در گفتگو با آژانس باختر گفت که این دومین مرکز تجارتی است که خدمات در آن از سوی زنان برای زنان ارائه می‌شود.

وی افزود که یک مرکز دیگر بنام «خدیجة الکبرا» در هرات نیز وجود دارد که در آن زنان صنایع دستی و لباس‌ها را به فروش می‌رسانند.

از سوی دیگر، شکوفه امینی یک تن از دکان‌داران که صنایع دستی را در این مرکز به فروش می‌رساند، از ایجاد دومین مرکز تجارتی برای زنان ... ۷مخ

## د هېواد په ۶ ولایتونو کې پر اړمنو کورنیو او بزګرانو مرستې ووېشل شوې

په پنجشېر، بغلان، پکتیکا او جوزجان کې اړمنو کورنیو او ننګرهار او کندز کې بزګرانو مرستې تر لاسه کړې.

په پنجشېر کې د WSTA موسسې په مالي ملاتړ او د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ په دغه ولایت کې په ۶۰۰ مهاجرو کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۲۵۷ ډالره ورکړل شول.

د یو بل خبر له مخې؛ بغلان کې د خوړو نړیوال پروګرام له لوري پر ۵۶۷ کورنیو د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې.

په همدې حال کې د پکتیکا د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې رئیس مولوي مطیع الله منصور د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې تردې دمه یې ۵۳۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته ۷۷ تنه اوړه، ۱۶۵ تنه وریجې او ۱۳۸ تنه غنم وېشلي دي.

په خبره یې، دغه راز هغو کورنیو ته چې د کورنۍ غړي یې سېلابونو کې وژل شوي وو، د هر کس په سر ۱۰۰ زره افغانۍ ورکړې دي.

همدارنګه په جوزجان کې د WAW موسسې له لوري له برېښنا څخه بې... ۷مخ

## د هوايي ډګرونو عمومي رئیس د ۵ ولایتونو د ډګرونو وضعیت وارزاوه

د افغانستان د هوايي ډګرونو عمومي رئیس پیلوټ عبدالستار غروال د هېواد د یو شمېر ولایتونو د هوايي ډګرونو د عمومي وضعیت ارزونې په موخه له کندهار او هلمند ولایتونو وروسته بامیان، روزګان او دایکندي ولایتونو ته سفرونه وکړل.

د دې سفرونو په ترڅ کې نوموړي د بامیان، ترینکوټ او دایکندي د هوايي ډګرونو له مسوولینو سره وکتل.

غروال د یادو مسوولینو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او د چارو د لا ښه کېدو په موخه یې ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

هېره دې نه وي، چې د هوايي ډګرونو د عمومي وضعیت ارزونې لړۍ په داسې حال کې پیل شوې، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ویاند په دې وروستیو کې د افغانستان له فضا څخه د تېرېدونکو الوتکو په شمېر کې د ډېروالي خبر ورکړی او په وینا یې اوسمهال په هرو ۲۴ ساعتونو کې په اوسط ډول ۱۰۰ الوتکې د افغانستان له فضا څخه تېرېږي.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

شریعت
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
په اونۍ کې دوه ځله خپرېږي

**شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او رښتیني هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې موږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.**